د افغانستان د څېړنې او ارزونې اداره

**د توضيحي پاڼو لړۍ**

د پاولا کانټور او ایرنا اندرسن لیکنه

# په افغانستان کې د کوچنيو پورونو د يو بريالي سکټور جوړونه

منځپانګه

۱. سریزه............................۲

۲. د بريا پر وړاندې ننګونې..... ۳

۳. د مایکرو فینانس د سکټور سمون..............................۷

۵. مخ ته پرتې لارې............۱۴

د افغانستان د څېړنې او ارزونې د ادارې وروستۍ خپرونې........۱۶

## لر لید

په افغانستان کې د مايکرو فينانس سکټور د اصلاحاتو د پړاو څخه د راتېرېدو په حال کې دی. دا په پراخه توګه د مراجعينو د شمير او ورکړل شوو پورونو د ودې له لارې چټک عملياتي ثبات ته د رسيدو په هکله د مخکينې ټينګار پايله ده. دغې تمرکز هغه پاملرنه چې د کيفيت، حساب ورکونې، او د مراجعينو د ګټو پوره کولولړۍ ته اړول شوې وه او د اوسنې غير رسمي پور د بازار د په اړه د ډاډ د نشتوالې سره غبرګه وه راټيټه کړې ده. چې دې ټولو د هغو ستونزولپاره چې د مايکروفينانس ادارې د مراجعينو د پور د نه اداکولو د لوړې کچې او په ځينو حالاتو کې د درغليو له کبله ورسره مخامخ دي يو بنسټ يې را مينځ ته کړی.

د افغانستان د څېړنې او ارزونې د ادارې د پورونو په غير رسمي سيسټم او کليوالي معيشت د کوچنيو پورونو د اغيزې تر نامه لاندې څېړنه هغه ممکنه ننګونې چې د کوچنيو پورونو ادارې ورسره لاس او ګريوان وې څرګندې کړې دي. نوموړې ستونزې له هغو څو سره يې اړيکه درلودله چې مراجعينو د بريا د ټاکلو لپاره د ټولنيزو او اقتصادي شرايطو په هکله د پوهاوي له لارې ترسره شوې دي په کوم کې چې دوی پر خپلو پورونو پانګونه کړې او يا دپورنو له لارې يې د مراجعينو اړتياوې پوره کړې دي. چې دا د کوچنيو پورونو دادارې او دمراجعينو د برياليتوب تر مينځ اړيکو په اړه د پوهې نشتوالی څرګندوي. ددغو اړيکو په اړه د مخ په ودې پوهې او په وده او کړنو کې بيرته پاتې کيدنې پر بنسټ د افغانستان لپاره دکوچنيو پورونود پانګه اچونې ادارې (MISFA) د سکټور په کچه يې يو لړ اصلاحات پيل کړې دي تر څو د مايکروفينانس ادارې د ودې پر ځای پر څرنګوالې بيا تمرکز وکړي. دغه اصلاحات د مايکرو فينانس متحدو ادارو څخه غوښتنه کوي څو کره سوداګريز پلانونه چمتو کړي، اوپه مديريتي او د پورونو اړوند چاروپه برخه کې د ظرفيت د تشې د په نښه کولو اود خپلو کارکونکو د وړتيا د لوړلو په موخه يو ښوونکی ولري، او د کنټرول د سيسټم د ودې او د درغليو د فرصتونو د راکمولو په موخه د داخلي پلټنې يو واحد رامينځ ته کړي. د افغانستان لپاره د کوچنيو پورونو د پانګونې د ملاتړ ادارې (MISFA) د کوچنيو پورونو د ادارې لپاره يې د راپور ورکونې کارتې سيسټم را مينځ ته کړ څو په دې توګه وکړای شي ددغو اصلاحاتو په پلې کولو او د هغه په وده کې د مايکروفينانس ادارې ته لاره هواره کړي.

د افغانستان لپاره د کوچنيو پورونو د پانګونې د ملاتړ دادارې د اصلاحاتو موخه په لومړي سر کې د کوچنيو پورونو د ادارو داخلي جوړښت، وړتيا او د کنټرول سيسټم دی. سره له دې، دغه اداره د هغه اړتياوو پيژندګلوي هم کړې چې له مخه يې د پورونو د توکو پرتنوع او کړندودونو بيا غور وکړي څو د مراجعينو اړتياوې پوره کړي. دداخلي سمون له راوستلو وروسته د افغانستان لپراه د کوچنيو پورونو د پانګونې د ملاتړ اداره په راتلونکې کې دنوموړې تنوع سره د مرستې په موخه د سپما، د کرهنې او مالدارۍ پورونو او د اسلامي پانګو د توکو

## د ليکوال په هکله

پاولا کا ټنور د افغانستان د څېړنې او ارزونې د ادارې مشره ده، چې د دغې څېړنې په ګډون يې د د رسمي پورونو او همدا راز د غير رسمي پورونو په اړه څېړنې، د کوکنارو د توليد او د پورونو تر مينځ اړيکو، د ماشومانو دکار په اړه کورنۍ پريکړې، کورنې توان او تاوتريخوالي او همدار از د کليوالۍ او بيا راستنيدو په اړه د افغانانو د دوهم نسل تجربو د څېړنو د يوې لړۍ لارښوونه يې کړې ده.

ايرنا اندرسن يوه ډنمارکۍ وګړه پيژندونکې ده، او د وړو پورونو د څېړنې په بهير کې نوموړې د افغانستان د څېړنې او ارزونې د ادارې د يوې لوړ پوړې مديرې په توګه د معيشت دڅېړنيزې ډلې د څارنې دنده يې په غاړه درلوده.

لپاره د غوښتنو د ارزونو په موخه د یوې عملي څېړنې د اجندا لپاره ژمن دی.

د مایکروفینانس ځینو انفرادي ادارو د هغه اقتصادي رکود په رڼا کې چې دوی آزمویلی دی په خپلو ادارو کې یې بدلونونه پیل کړې دي. په ځینو حالاتو کې د مراجعینو د ګټو د ښه پوره کولو په موخه په دغه بدلونونو کې د پور د پروګرام پر قوانینو بیا کتنه هم شامله ده - لکه د پور اندازه، د ضرب الاجل موده، او د قسطونو وار. په نورو حالاتو کې د مایکرو فینانس ادارې هغه نوې توکې چې د افغانستان لپاره د کوچنیو پورونو د پانګونې د ملاتړ اداره یې ارزو په پام کې لري راسپړي، لکه کلیوالي پانګې او اسلامي بانکي توکي، په پای کې دمایکروفینانس ځینې ادارې د MISFA د وړاندیز شویو داخلی کنټرولونو سربیره یوشمیر نور هم پلې کوي.

په داسې حال کې چې دسمون په بهیر کې مایکروفینانس ادارو ته ډېره پاملرنه شوې ده، MISFA هم د تولنیزو کړنو د څارنې د پیل له لارې د مراجعینو د کړنو د څارنې دودې لپاره هڅه کوي. د هیواد په کچه د مایکروفینانس ټولې ادارې کولای شي ورته معلومات په تدریجي توګه راغونډ کړي خو ستونزه په دې کې ده چې څه ډول معلومات راغونډ کړي څو د مراجعینو بریا څرګنده کړي، او یا په نورو برخو کې دپورونو د ځینو ټولنیزو اغیزو څارنه وشي، لکه چې څرګندیږي ټاکل شوي شاخصونو ته لږه پاملرنه شوې ده. چې دا د مراجعینو پر معیشت د پورونو د اغیزې په هکله د لږ څه پوهاوي لپاره، وړاندیز کوي چې د غه بهیر هغه څه ته لومړیتوب ورکړي چې را غونډېدلای شي نه هغه څه ته چې ورته اړتیا ده.

په افغانستان کې د مایکروفینانس د سکټور په برخه کې د پام وړ مثبت بدلونونه را مینځ ته کیږي، سره له دې چې د مایکروفینانس او مراجعینو د بریالیتوب د تضمین په موخه د اصلاحاتو د ودې لپاره لا هم فرصت شته، چې دا کیدای شي چې ددواړو تر مینځ د نږدې اړیکو د تایید او د دوروستني یاد شوي ټکي د ودې لپاره د پام وړ هڅو له لارې تر سره شي. ځینې مخ ته پرتې لارې دا دي:

- د په پام کې نیول شوې پراخیتیا پلې کول د کلیوالي اقتصاد د یو ټوټه کلیوالي پراختیا په برخه کې د مراجعینو د غوښتنو د ژور درک سره.
- د هغو مالي خدمتونو پراختیا چې د معیشت د کمښت د ګواښونو د په نښه کولو لپاره وړاندې شوې دي، لکه د خپلې خوښې سپما او د بیمې دتوکو له لارې.
- په فوري توګه د مراجعینو پربریالیتوب تمرکز، او په عین وخت کې د پایلو او اغیزو د ارزولو په برخه کې د کړنو د څارنې دنویو وسایلو د زیات کار څخه داډ تر لاسه کول.
- د سکټور د وړتیا د لوړولو په موخه د کسب او مالیخدمتونو د روزنیزو پروګرامونو په برخه کې د دولتي او شخصي پانګه اچونې څخه پراخ ملاتړ .
- د مراجعینو په مشرۍ د مایکروفینانس د زیات سیالي کونکو توکو د پراختیا په موخه د پورونو د غیر رسمي سیستم څخه زده کړه.

# ۱. سریزه

په ۱۳۸۲ کال کې د افغانستان لپاره د کوچنیو پورونو د پانګونې دملاتړ د ادارې (MISFA) له لارې په افغانستان کې د کوچنیو پورونو مهم پروګرامونه وړاندې شول. د کوچنیو پورونو په برخه کې پانګه اچونه په اصل کې د هغه باور په واسطه چې افغانان او په ځانګړې توګه کلیوال افغانان پورونو ته لاس رسی نه لري توجیه شوه. داسې تمه کیده چې د پورونو د اغیزمنتوب لپاره پورونو ته ښه لاس رسي به د بیارغونې، او همدا راز د جګړې او وچکالۍ د اغیزو څخه د خلاصون لپاره لاره هواره کړي.

د افغانستان د څیړنې او ارزونې د ادارې د ۱۳۸۲ کال څیړنې په کلیوالي معیشت کې یې پور ته یوه مهمه ونده ور په برخه کړه. [1] د پور څخه د بنسټیزو اړتیاوو د تامین او د کړکیچ څخه د را مینځ ته شوو تاوانونو د پوره کولو او همدا راز د دندو په برخه کې د پانګه اچونې لپاره ګټه اخیستل کیده. که څه هم چې دا هغه پورونه وو

چې د یو غیر رسمي سیستم له لارې د ګاونډیانو، خپلوانو، کلیوالو، اټې والواو سوداګرو تر مینځ به وړاندې کیدل. د غیر رسمي پور د سیستم په هکله بلې څیړنې د کلیو د ټولنیزې ساتنې سیستم ته یې د هغوی تنوع، پراختیا او ارزښت څرګند کړ. [2] دغه موندنې د هغه مهمو پانګونو سره غبرګې دي چې دکوچنیو پورونو په برخه کې پور ته د نه لاسرسي د انګیرنو پر بنسټ را مینځ ته شوې او پر غیر رسمي پور او د کلیوالي معیشت پر خوندیتوب، د کوچنیو پورونو اغیزې تر پوښتنې لاندې راولي.

د نوموړو پوښتنو پر بنسټ، د افغانستان د څیړنې او ارزونې ادارې په کلیوالي معیشت کې د رسمي او غیر رسمي پور ونو د ونډې او د پور د دواړو سیستمونو د ګډون د څرنګوالې د ارزولو په موخه یې په ۱۳۸۶ کال کې یوعملي کار په لاره واچولو. [3]

[1] جو ګریس او آدم پین په افغانستان کې پر کلیوالي معیشت بیا غور( د افغانستان د څیړنې او ارزونې اداره کابل –افغانستان ۱۳۸۳ کال)

[2] فلورتجې کلیجن او آدم پین، د پیسو موندل: د افغانستان په کلیو کې د غیر رسمي پور په کارول (د افغانستان څیړنې او رازونې اداره ۱۳۸۶)

[3] پاولا کانټور، د لاس رسی څخه تر اغیزې: په افغانستان کې کوچني د افغانستان د څیړنې او ارزونې اداره ۱۳۸۸)

نوموړی ریپوټ وړاندې تر دې چې په افغانستان کې د کوچنیو پورونو سکټور د هغو کړنې شمیر اندیښنو د په نښه کولو لپاره چې د همدې څیړنې له لارې  څرګندې شوې وې، پر هغه وروستنیو بدلونو بحث وکړي ، په ځانګړې توګه د همدې څیړنې هغو موندو ته چې دمایکرو فینانس د ادارو او د مراجعینو د بریا په وړاندې شتو ننګونو باندې تمرکز لري بیا کتنه کوي. نوموړی ریپوټ په دې اړه چې څرنګه دا اوسني بدلونونه لا هم ښه کیداې شي تر څو د مراجعینو او د کوچنیو پورونو د اداري بریاوی په ګډه توګه د یوې مهمې مسألې په توګه تضمین شي له یو لړ وړاندیزونو سره پای ته رسیږي.

۱ چوکاټ:  کوچنۍ پانګې او کوچنې پورونه

مایکرو کریډت هغه  کوچنیو پورونو ته وایې چې لږ عاید لرونکو خلکو ته د دندو د  را مینځ ته کولو او پر ځان د بسیا کیدنې په موخه ورکول کیږي؛ همداراز کیداې شي د نورو موخو لپاره  هم پورونه په کې شامل وي.  دا اکثراً  د هغو پراخو پروګرامونو یوه برخه جوړوي چې د یوه هیواد د  مالي خدمتونو له  سکټور څخه ملاتړ کوي او هغه ته پراختیا ورکوي چې د پورونو برابرول، سپما، د حوالو لیږد او د بیمې خدمتونه په کې شامل دي  چې د مایکرو فینانس په نامه یادیږي.

## ۲.  د بریا پر وړاندې ننګونې

د مایکروفینانس د ادارو او د مایکروفینانس د مراجعینو دواړو بریاوې باید د کوچنیو پورونو په سکټور کې دپاملرنې پایله وي.[۴] د مایکرو فینانس د ادارو په برخه کې بریا د عملي ثبات په مفهوم ده ( لکه د ګټو سره د اغیزمنتیا د لګښت پوره کول). د کوچنیو پورونو د مراجعینو لپاره دا د معیشت د خوندیتوب ستري کچې ته د رسیدو یوه وسیله ده. که څه هم چې د افغانستان د څیړنې او ارزونې اداري د یوې څیړنې په ترڅ کې کلیوالي معیشت او هغه پورونه چې د مایکروفینانس د ادارو د مراجعینو او غیر مراجعینو له لوري ترې ګټه اخیستل کیږي، همدا راز د مایکرو فینانس د اداري د استازو نظریات یې را سپړلي دي او دا په ډاګه کوي چې د مایکرو فینانس بریالیتوب تل د مراجعینو بریالیتوب تر خپلې اغیزې لاندې راولي. چې لامل یې د افغانستان د شرایطو سره سم په نسبتاً لنډه موده کې عملي ثبات  ته پر رسیدو د سکټور  پر عمومي تمرکز، او همدا راز هغه څو پوړي  چې د هغو انګیرنو له لارې چې ګواکې اکثره افغانان پورونو ته لاس رسی نه لر ي د غیر رسمي پورونو د اوسني سیستم له پامه غورځولو پوري اړوند دی. چې دواړه لاملونه کیداې شي په افغانستان کې د کوچنیو پورونود یوه غښتلي سکټور د رامینځ ته کیدو موخې ته د رسیدو په وړاندې ستونزمن اوسي.

### د عملي ثبات لپاره هڅې

عملي ثبات د مایکروفینانس د ادارو یوه مهمه او نړیواله موخه ده ځکه چې دا کار پر مرستندویه ټولنو د مایکرو فینانس د ادارو د تړاو د را کمولو لامل کیږي. چې دا له پراختیایي مرستو څخه پرته به خپلواکه توګه د دوی اوږد مهاله حضور تضمینوي. د د غه خپلواکۍ ته رسیدل بی له شکه خورا ارزښتناک کار دی، خو د مایکرو فینانس اداري همدا راز باید د خپل پر ثبات لږ تمرکز وساتي، لکه چې د مراجعینو مالي اړتیاوې له پامه غورځیدلې دي.[۵] د مایکروفینانس اداري د افغانستان لپاره د مایکرو فینانس د ملاتړ د اداري د شریکانو په توګه کار کوي چې ډنده یې په پنځو کلونو کې عملی ثبات ته رسیدل، او د هغه وخت نیولیبرال توافق منعکسول دي.[۶] د افغانستان په شرایطو کې د پورونو د برابرولو په وړاندې ګڼ شمیر ستونزو ته په پام سره دغه موده ډیره لنډه ده. نوموړې ستونزې په لاندې ډول دي:  امنیتي شرایط، چې د فعالیتونو لګښت لوړوي؛ د ملی کارکونکو په مینځ کې د تجربو او وړتیاوو نشتوالی، چې دا په لنډ مهال او مینځ مهاله توګه پر متخصصینو د تړاو لامل کیږي؛ د خلکو لیرې والی د خدمتونو د لیږد د لوړ لګښت لامل کیږي؛ او په ځینو برخو کې د ګټه لرونکو پورونو په وړاندې حساسیت .[۷] دنوموړې مودې د پوره کولو او پر مراجعینو د لګښت د کمولو په موخه د مایکروفینانس اداري په پام کې لري چې د پروګرام پر اندازې  او پراختیا تمرکز وکړي. چې د ا د مراجعینو د اړتیاوو د پوره کولو او په پروګرام کې د مراجعینو د ښکیلتیا د ګټورتوب د تضمین لپاره خورا ارزښتناک دی، او په مینځ مهال کې د مایکرو فینانس د اداري د دوام لپاره به منفي پایلې ولري[۸].

د افغانستان د څیړنې او ارزونې د ادار ې پر غیر رسمي پورونو او کلیوالی معیشت د کوچنیو پورونو د اغیزې په اړه د څیړنې مهمې موندنې داوې چې ټولنیز او اقتصادي شرایط معیشتي اقداماتو په څیرد کوچنیو پورونو په غوره والي کې د ارزښت وړدي.

[۴] د افغانستان لپاره د کوچنیو پورونو د پانګونې د ملاتړاداره مرکه، د ۱۳۸۸ کال د غبرګولې میاشت.

[۵] پاولا کانټور د لاس رسي څخه تر اغیزې.

[۶] نوموړې کلي په کابل، بامیان او د بلخ په ولایت کې وو. د لا زیاتو معلوماتو لپاره د پاولا کانټور د لاس رسۍ څخه تر اغیزې رساله وګورى.

[۷] مالکولم هارپر، په، مایکرو فینانس ولې ګرم دی ؟ ’’ بزګران او مایکرو فینانس: آیا دوی سره جوړیږي؟‘‘ د ټوماس دایچټر او هارپر له خوا تصحیح شوی (رګبایو انګلستان: د نړیوالې تکنالوچۍ خپرونې ۱۳۸۶ کال)۸۳-۹۴

[۸] پاولا کانټور د لاس رسي څخه تر اغیزې.

نو موږي ځيړنه په دريو کليو کې تر سره شوه،[9] د ځيړنې تر پوښښ لاندې کليو تر مينځ توپير که څه هم چې ډير نه وو خو د کوچنيو پورونو د وړاندې کولو د ځای او څرنګوالي په اړه يو لړ د پام وړ لارو چارو اړتيا ته ګوته نيسي تر څو د معيشت د خونديتوب زياتوالی تضمين کړي. دغه د پام وړ لارې چارې د کليوالي اقتصاد د محدوديت او ګواښمنتيا او د لړو ګټو له کبله د ښاري سيمو په پرتله په کليوالو سيمو کې ډيرې اړينې دي.[10] دغه فکټورونه کليوالي مراجعينو ته د قسط د ادا کولو لپاره د پيسو پيدا کول ستونزمن کوي، دا هغه څه دي چې د ځيړنې په بهير کې د ځواب ويونکو کورنيوله لورې به خورا زيات رابر سيره کيدل.[11] نوموړې موضوع آن د هټيوالو په مينځ کې چې د باثباته نغدو پيسو د درلودلو له کبله د کوچنيو پورونو د پروګرامونو لپاره اکثراً د غوره مراجعينو په توګه شميرل کيږي هم څرګنديده. په درې ګونو کليو کې هټيوالو ځواب ويونکو د کليو د اوسيدونکو د توکو د پير د ټيټ توان او نغدو پيسو د نه درلودلو له کبله يې د پام وړ ننګونو څخه يادونه وکړه. هټيوال اکثراً پورونه پلوري او بيا د مراجعينو څخه د قسط د تر لاسه کولو په برخه کې له ستونزو سره مخامخ کيږي کوم چې تمه کيده چې دغه قسطونه ددوی دخپلو پورونو د قسطونو د ادا کولو په برخه کې به مرسته وکړي.

په پای کې، د هغو هڅو په لړ کې چې د لګښت د کمولو په موخه د پراختيا او اندازې لپاره تر سره شوې دي، د مايکرو فينانس هغه ادارې چې د ځيړنې تر پوښښ لاندې سيمو کې فعالې دي هڅه يې کوله چې د خلکو د ټولنيز او اقتصادي برياوو د ارزونې په برخه کې پانګونه ونه کړي.[12] د هغو مراجعينو چې پورونه يې په غاړه اخيستې دي د وړتياوو يو څه ارزونه تر سره شوې خو اندازه او څرنګوالی يې د مايکرو فينانس په ادارو کې سره توپير لري او اکثراً د پور اندازې پورې تړاو لري (هر څومره چې پور ستر وي نو د پور په ورکړه کې د بې وسۍ د ستر ګواښ له کبله، د قسط د بيا ورکولو د وړتيا زياته ارزونه). د کابل د ولايت تر ځيړنې لاندې کلي کې چې جګړې او وچکالۍ په کلکه ځپلی وو د ټولنې په کچه ارزونه خورا ستونزمنه وه.[13] د اوبولګولو سيسټم يې کابو له مينځه تللی وو، په دې مفهوم چې د غلو د کر کيلې يو بنسټيز فعاليت له پامه غورځيدلی دی. دغه کار ددې لامل شوی چې کليوال د اغيزمن پور په برخه کې د پانګونې لپاره لږ واک ولري؛ داقتصادي ودې لپاره د يو اغيزمن چاپيريال د را مينځ ته کولو لپاره لومړنۍ ګام چې بايد اخيستل شوی وای د کليو د اوبو او نورو بنسټونو بيا رغول دي. د پورونو برابرول د يوې هر اړخيز ې او ترتيب شوې پراختيا د کړنلارې په توګه، د هغو سازمانو سره په همغږۍ کې چې بنسټونه او نور خدمتونه وړاندې کوي په پام کې نه وه نيول شوې. په پای کې ، د پورونو د برابرولو په برخه کې دا ډول محدود تمرکز په کلي کې د مايکرو فينانس دادارې پر ځيړنه او هم پر مراجعينو ناوړه اغيزه کړې ده ، له هغه ځايه چې مراجعينو هڅه کوله څوخپل پورونه ادا کړي چې دا د مايکرو فينانس د ادارې څخه د مراجعينو د وتلو او منفي تعبير لامل کيږي. د مراجعينو دغه هڅې په پای کې د مايکرو فينانس د ادارې وړتيا باثباته فعاليت ته د رسيدو لپاره محدودوي.[14]

د ځيړنې په دوو نورو کليو کې د اغيزمن پور د پانګه اچونې لپاره اقتصادي وړتيا په لوړه کچه ليدل کيده.[15] د باميان په کلي کې د کچالو لوړو محصولاتو د خلکو لپاره يو اقتصادي بنسټ برابر کړی وو. له دې اقتصادي بنسټ سره پور که څه هم چې خطرناک وو خوتر يوه حده د لګښت او اغيزمنې پانګې اچونې په موخه کاريده. چې دواړه فکټورونه د پوروړو ځواب ويونکو په مينځ کې د قسط لپاره دهلو ځلو لامل شوو. د ځينو لپاره دا د پور د يوې دورې له لارې څرګنده وه، چيرې چې پوروړې په نوو کوچنيو پورونو پورې تړلې وو څو وکړای شي خپل غير رسمي پورونه چې د پخوانيو کوچنيو پورونو د قسط د ضرب الا جل د پوره کولو په موخه اخيستل شوې وو ادا کړي. ددوی پانګونې لا تر اوسه بسيا ګټه نه ده تر لاسه کړې څو وکړای شي چې د مايکرو فينانس د ادارې د پورونو د اقساطو او اړينو لګښتونو سره مرسته وکړي. سره له دې د کچالو د حاصلاتو اقتصادي وړتيا ته په پام سره که چيرې نور سازمانونه د مايکروفينانس د ادارې له پورونو سره په همکاری کې او يا له هغه څخه وړاندې يې نور اقدامات په لار ه اچولې وي( لکه، بنسټ يابيخبنا، بازار ته لاس رسي، د ګواښوونو د را کمولو ميکانيزم)، نو د معيشت د ودې لپاره فرصتونه پياوړې کيدای شي. د بلخ ولايت د ځيړنې لاندې کلي کې پرمعيشت د مثبتې اغيزې لپاره کوچنيو پورونو کې وړتيا موجوده وه . ځينو ځواب ويونکو دا يې غوښتل چې د عمده پلورونکو سره د غير رسمي پورونو اړيکې وشلوي ځکه چې بزګران د محصولاتو د بيې په اړه د خبرو اترو لپاره لږ او يا هم هيڅ توان نه لري د ا ځکه چې دوی خپل محصولات پر عمده پلورونکو پلوري او هغوی هم دوی ته د محصول د پيرودلو لپاره پور ورکوي.(لکه د شنو کورونو (greenhouse) د جوړولو لپاره د اړتيا وړ توکو برابرول). که څه هم چې د مايکرو فينانس سخت معيارونه ددې لامل شوو چې ځينې د شرايطو سره سم مراجعين په دې کې د نه ښکيليدو پريکړه وکړي.

ساحوي ځيړنې هم د کوچنيو پورونو په سکټورکې د برياليتوب د اندازې موضوع را پورته کړه. د قسط اندازه په وار وار د

[9] باولا کانټور د لاسرسۍ څخه تر اغيزې او د افغانستان د ځيړنې او ارزونې د ادارې د کوچنيو پورونو د قضيو ځيړنه

[10] مهربانی وکړی د قضيو د ځيړنې د شرايطو ضميمه وګوری

[11] پاولا کانټور او ايرنا اندرسن، ” کوچني پور، غيررسمي پوراو کليوالي معيشت: د کابل په ولايت کې د يوکلې د قضيې ځيړنه“(کابل د افغانستان د ځيړنې او ارزونې اداره)

[12] ايرنا اندرسن، پاولاکانټور او امندا سيم، ”کوچني پور، غيررسمي پوراو کليوالي معيشت: د باميان په ولايت کې د يوکلې د قضيې ځيړنه“ د افغانستان د ځيړنې او رازونې اداره کابل) ”کوچني پور ، غيررسمي پوراو کليوالي معيشت: د بلخ په ولايت کې د يوکلې د قضيې ځيړنه“ د افغانستا د ځيړنې او رازونې اداره کابل)

[13] د مايکروفينانس د ادارې مرکې، د ۱۳۸۸ کال د غويي مياشت، د افغانستان لپاره د مايکرو فينانس د ملاتړ آسانتيا د ۱۳۸۸ کال چنګاښ

[14] د افغانستان د ځيړنې او ارزونې د ادارې قضيوی ځيړنې

[15] کليجن او پين، د پيسو پيدا کول؛ پاولا کانټور د لاس رسۍ څخه تر اغيزې.

بريالیتوب د اندازې په توګه یادشوی دی او په افغانستان کې د عملي کار په وخت کې دا لوړ ښودل شوی دی. د ځواب ویونکو په مینځ کې د کوچنيو پورونو مراجعینو له دې څخه يې ملاتړ کاوه - دوی د اقتصادي او ټولنيزو دلايلو له کبله لکه د پور د نه ادا کولو له کبله د شرم او مايکرو فينانس د ادا ارو له خوا د وضع شوې جريمې څخه خلاصون، او د پورپه دواړو رسمي او غيررسمي سيټمونو کې د پور د ارزښت ساتل د کوچنيو پورونو ادا کولو ته يې لومړيتوب ورکړی وو. سره له دې ، هغه تګلاره چې د مراجعينو له خوا د پور د ادا کولو په موخه په کاريده اکثراً د معيشت پر خونديتوب يې منفي اغيزې درلودلې دي. مراجعين بايد له غير رسمي سرچينو څخه پور واخلي( په دې توګه د پور کچه لوړه کړي) جايداد وپلوري، او يا هم د قسطونو د ادا کولو په موخه خپل ځيني پورونه ورنه کړي. آن که چيرې د قسطونو اندازه د مايکر فينانس د ادارې بريا هم څرګنده کړي نوموړې تګلارې او د هغوی اغيزې د مراجعينوله بريا سره مرسته نه شي کولای.

د هيلې سره سم، له دواړو پايلو د مايکرو فينانس او د مراجعينو له برياوو څخه بايد ملاتړ وشي نه دا چې د يو بل سره مخالفت وکړي. د وخت په تيريدو سره د پور د ادا کولو لپاره رواني هلې ځلې په اقتصادي چاپيريال کې د بدلونونو سره يوځای دي ( لکه پر له پسې وچکالي، د بنسټيزو توکو د بيې لوړيدل، او بې امنيتي چې اقتصادي واک محدودوي) چې دا د قسط د اندازې او د مايکروفينانس د بريا د را ټيټولو لامل کيدای شي. د اندازې او پراختيا لپاره هلې ځلې ددې لامل شوې څو د مايکروفينانس د ادارو هغه پانګونه چې خلکو ته د خپلو پروګرامونو د پيژندنې په برخه کې کيږي محدوده کړي. تر څيرنې لاندې کليو کې د مايکروفينانس ادارو غوښتل چې په تدريجي معلوماتو اتکا وکړي ترڅو مراجعين د پروګرام له جزياتو څخه خبر کړي. د ټولنې له مشرانو سره په سيمه ايزو جوماتونو کې غونډې تر سره شوې او ښځو اکثراً په مستقيمه توګه معلومات نه تر لاسه کول . چې دا کار به د کوچنيو پورونو د قوانينو په هکله لکه د ګټې ورکولو حساسې ټولنيزې موضوع په اړه د غلط تعبير لامل کيده. دا د پورونو د اندازې او پراختيا پر وړاندې يو ستر خنډ وو ځکه چې ځينو وړ مراجعينو په کې برخه نه وه اخيستې.

د امکان تر حده د مراجعينو د شمير د زياتوالي لپاره غوښتنې د مايکروفينانس ځيني ادارې يې اغيزمنې کړې څو د پورونو يو لړ ساده او محدودو توکو ته پراختيا ورکړي. دا د پور د نويو آمرينو لپاره به آسانه وي څو د پورونو يوه ستندرده ټولګه چې د مايکروفينانس د ادارې لپاره يې ځارنه هم آسانه وي وړاندې کړي، مګر د داسې پورونو د تر لاسه کولو لپاره چې د معيشتي فعاليتونو سره سمون ولري د مراجعينو غوښتنې يې نه دې پوره کړې. د مراجعينو د ګټو تر مينځ دغه توپير په ځانګړې توګه د کليوالو سيمو په برخه کې ليدل کيږي، چيرې چې د نغدو پيسو شتون منظم نه دی، ګټې لږ او د ګوابنه ډکې دي او له يوه ټاکلې وخت څخه وروسته لاس ته راځي( له حاصلاتو او يا له څارويو څخه)، او د پور توکي ددې حالت په وړاندې حساس دي. نو له دې کبله محصولات ښايي په آسانۍ سره د مايکروفينانس د ادارې ګټې پوره کړي، خو داسې ښکاري چې دغه تګلاره له دې کبله چې د مراجعينو د اړتياوو سره کومه اړيکه نه لري نو کيدای شي چې معکوسې پايلې ولري. دغه حالت د کابل په مايکروفينانس ادارې کې هم ليدل کيده، کوم چې په افغانستان او يا په کليو کې د خپل د پروګرام د توافق ورکولو لپاره يې لږ څه تر سره کړې دي او د څيړنې د ځواب ويونکو په مينځ کې يې شهرت نه درلود. چې دا د باميان د مايکرو فينانس د ادارو سره يې توپير درلود ، کوم چې هڅه يې کوله څو د پور د اندازې او ضرب الاجل له نظره داسې پورونه وړاندې کړي چې د کليوا لي فعاليتونو سره سمون ولري چې دا کار په کليو کې په ژوره توګه د ستاينې وړ وګرځيد. د مراجعينو د ګټو او پور د توکو تر مينځ انډول پورونو ته د افغانانو د لاس رسی او غوښتنو په هکله د مايکرو فينانس د سکټور د انګيرنو څخه راولاړې شوې دي.

## د پور غوښتنه او هغه ته لاسرسی

د افغانستان د څيړنې او ارزونې د ادارې مخکينۍ څيړنې او د کوچنيو پورونو د اغيزې په اړه وروستی مطالعې په ډاګه کړه چې په داسې حال کې چې پور د معيشت په سيستم کې يو مهم ځای لري، نو غير رسمي پور ددغې غوښتنې د تر سره کولو په برخه کې مهمه ونډه لري. هغه مخکينۍ ادعاوې بې ځايه وې چې ګواکې افغان کليوال پورونو ته لاس رسي نه لري او دا چې د کوچنيو پورونو لپاره به د غوښتنو کچه خورا لوړه وي ځکه چې دوی دې ته يې پاملرنه نه وه کړې چې کورنيو د جګړو او کړکيچ په موده کې د پورونو د راکړې ورکړې پر بنسټ د خپل ځان سره د مرستې سيستم يې څه ډول جوړ کړی وو. دغير رسمي پور سيستم شتون ته نه پاملرنه، چې د افغانستان د څيړنې او ارزونې د ادارې د څيړنو پر بنسټ د پورونو د راکړې ورکړې له کبله اغيزمن شوی دی اواقتصادي ارزښت نه لري، په دې مفهوم چې دمايکرفينانس ادارې د سيمه ايز پور د بازار پيچلتيا او د سيالي کوونکو محصولاتو د پراختيا اړتيا ته د پور او يا نورو ځانګړتياوو له نظره يې پاملرنه نه ده کړې چې له وړاندې نه د مراجعينو د غوښتنو څخه د ملاتړ لپاره موجود دي.

لومړی جدول په کليوالي معيشت کې د کوچنيو پورونو د ونډې په اړه د افغانستان د څيړنې او ارزونې د ادارې په څيړنه کې د مايکرو فينانس د ادارې له ځواب ويونکو څخه راغونډ شوې معلومات څرګندوي. دا د هغه ځواب ويونکو په اړه معلومات وړاندې کوي چې د څيړنې څخه وړاندې له درې کلونو راهيسې پوروړې دي چې نوموړې معلومات د کلي په کچه راغونډ شوې دي او دا په ډاګه کوي چې د پورونو غير رسمي سيستم ته لاس رسي د ځواب ويونکو په مينځ کې خپره وه او له هغه پورونو څخه يې اندازه لوړه وه چې د څيړنې تر پوښښ لاندې دوو او يا دريو کليو کې د مايکروفينانس ادارو څخه تر لاسه شوې وو. سره له دې چې په دوو سيمو کې د غير رسمي سرچينو څخه د تر لاسه شويو پور ونو منځنۍ اندازه خورا لږ وه، چې د تر لاسه شويو

غیر رسمي پورونو مقدار ددې جبران کوي. ځواب ویونکو کولای شول چې څوګوني غیر رسمي پورونه تر لاسه کړي څو د اړتیا وړ پانګه زیاته کړي.

کیدو له امله خورا ګراني پریوتي. د مایکرو فینانس د اداري دغه سخت شرایط ا و معیارات ددوی د پورونو د نسبتاً ستر ي اندازي او د پور د نه ادا کولو ګواښ د را کمولو په برخه کې یې ددوی

| موقعیت | د پورونو اندازه افغاني | | د پورونو شمیر | | د پور منځنی اندازه | |
|---|---|---|---|---|---|---|
| | غیر رسمی | کوچنی پور | غیر رسمي | کوچنی پور | غیر رسمي | کوچنی پور |
| کابل | ۵۴۶۴۸۰ | ۲۲۹۰۰۰ | ۲۴ | ۵۸ | ۹۵۴۲ | ۹۴۲۲ |
| بامیان | ۸۰۶۹۷۰ | ۶۸۹۰۰۰ | ۲۴ | ۴۰ | ۲۸۷۰۸ | ۲۰۱۷۴ |
| بلخ | ۴۹۶۲۷۰ | ۵۸۱۰۰۰ | ۲۲ | ۶۷ | ۲۶۴۰۹ | ۷۴۰۷ |

لومړی جدول: د ځواب ویونکو د پور په اړه راغونډ شوې معلومات

د ځیرنې لاندې کلیو د قضیوځیړنیز شواهد ښیي چې هغه کلي چې له پروګرامه وتلي دي او هغه ځواب ویونکي چې فکر کیده چې پور به واخلي خو بر عکس پریکړه یې وکړه، چې دا د توکو په وړاندې کولو کې د غیر رسمي پور په پرتله او یا د هغه سره په سیالۍ کې د مایکروفینانیس د اداري د وړتیا په اړه یو مختلط تصویر څرګندوي. د کابل د مایکرو فینانس په اداره کې د پروګرام څخه د مراجعینو وتل خورا مکرر وو(چې د ځیرنې لاندې درې واړو کلیو کې موجود وو). چې ددې د پور توکې د پور د کوچنی اندازې او د قسط د اوونیزې بنې له کبله د موجود غیر رسمي پور سره په ښه توګه نه وو پرتله شوې. کڼ شمیر پوروړو څخه کوله څو یوه پانګه ومومي څو وکړای شي د یوې اوونۍ له ضرب الاجل څخه وروسته خپل دقسط په ادا کولو پیل وکړي او له هغه ځایه چې د پور اندازه د یوې اغیزمنې پانګونې سره د مرستې لپاره بسیا نه وه نو له دې کبله دوی وغوښتل چې دغه پیسې د لګښت لپاره وکاروي. نو له دې کبله د مایکرو فینانس د سیمه ایزې اداري ځواب ویونکو یادونه وکړه چې د پور د لومړي پړاو څخه وروسته ددوی د خدمتونو لپاره غو ښتنې په چټکه توګه کمې شوې.[۱۶] د پروګرام څخه د وتلو او د پور د توکګې پیچلتیا د کابل د کلیوالو ځواب ویونکو په مینځ کې په دې دلالت کوي چې دمعیشت په سیستم کې د پور مهمې ونډې ته په پام سره، د پور د بدیل غوره سرچینې موجودې وې

لکه چې مخکې ورته اشاره وشوه، د ساحوي مطالعې پر مهال د بلخ په ولایت کې ولیدل شول چې د مایکروفینانس اداري یوځه سخت شرایط او معیارات درلودل. د انفرادي پورونو لپاره پور اخیستونکي مکلف وو څو د مزار شریف له دوو هټیوالو تضمین له ځانه سره ولري. د انفرادي او ډله ایزو پورونو لپاره لازمه وه چې پور اخیستونکي وړاندې تر دې چې پور تر لاسه کړي څو ځلې په ښار کې دمایکروفینانس داداري دفتر ته ورشي او همدا راز د پور د ۲۰-۲۵ سلنې په اندول سپما ولري. د غه غوښتنې په مستقیمه او غیر مستقیمه توګه د ترانسپورت د لګښت او د کار د وخت د ضایع

لیوالتیا څرګندوله، خو د غه معیارات د ځینو پوروړو د بریالیتوب لپاره یو ستر خنډ وو. ځینو نشو کولای چې د هټیوالو تضمین تر لاسه کړي او ځینو نورو که څه هم چې دا کار یې کولای شو خو پریکړه یې وکړه چې دا کار ونه کړي. چې وروسته د ا څرګنده شوه چې ځواب ویونکو له دې کبله چې نه یې غوښتل ددې ملاتړ له کبله ځانته شرم وګټي، چې دا د پور هغه ټولنیز زیانونه څرګندوي چې پوروړي یې په پام کې لري. د نوموړو معیاراتو هغه ټولنیز زیانونه په ځانګړې ډول هغه کسان چې نسبتاً شتمن هم وو او یا یې لوړ موقف درلود هم اغیزمن کړه، او د مایکرو فینانس د اداري لاس رسي یې وړ او مهمو مراجعینو ته پای ته ورسوله . دغو ځواب ویونکو یا خو ټولو په ګډه د پور له اخیستلو څخه یې ډډه وکړه او یا یې پریکړه وکړه څو د شخصي شبکو څخه پورو واخلي چې ددوی لپاره د ټولنیز او اقتصادي نظره یې زیان کم وو. [۱۷] د لږ بدایه مراجعینو لپاره د هغه شرم له امله چې د پور نه اداکولو له کبله را مینځ ته کیږي دواړه رسمي او غیر رسمي پورونه کیدای شي له ټولنیز ه نظره ورته ګران پریوځي. نو له دغه شان شرم څخه ډډه کول د پیسو د پیدا کولو لپاره د منفي تګلارو لامل کیږي لکه د ولورپه بدل کې په واړه عمر کې د لونو واده.[۱۸] د مایکرو فینانس د بریاوو د دوامداره ملاتړ لپاره دغه موندنې د مراجعینو د معیشت د فعالیتونو او د معیشت د خوندیتوب په برخه کې د مایکرو فینانس د ډیرې پاملرنې اړتیا ته اشاره کوي . داسې بریښي چې دغه اړیکې د پنځه کلنو فعالیتونو د دوام لپاره د مرستو د اندازې د هلو ځلوله امله له مینځه تللي دي. په سکټور کې د نیمګړتیاوو رامینځ ته کیدل او د مراجعینو پر شمیر او پاتو پورونو باندې تمرکز د ځیرنې له پایلو څخه ملاتړ کوي. چې دا کار د مایکر فینانس په سکټور کې د کړنو د اصلاح او اوږد مهالي بریا په موخه د پام وړ داخلي بیا کتنې لامل شو. وروستی برخه وړاندې تر دې چې د نورو اړینو چارو چې ښایي تر سره شي ارزونه وکړي دنوړموړو بدلونونو او د هغو هڅونکو ته بیا کتنه کوي.

[۱۶] پاولا کانټور او اندرسن،.. ”د کابل په ولایت کې د یو کلي قضیوي څیړنه“، کانټور د لاس رسۍ څخه تر اغیزې.

[۱۷] اندرسن او سیم ،” د بلخ په ولایت کې د یو کلي قضیوي څیړنه“.

[۱۸] د افغانستان لپاره د کوچنیو پورونو د ملاتړ آسانتیا مرکهو د ۱۳۸۸ کال د غبرګولې میاشت.

# ۳. د مايکرو فينانس د سکټور سمون

د خپل د کار په لومړنيو کلونو کې، د افغانستان لپاره د کوچنيو پورونو د پانګونې د ملاتړ اداري (MISFA) د اندازې، پراختيا او دوام  موخو ته په پام سره د مايکرو فينانس سکټور يې را مينځ ته کړ چې د يوې پروژې دريځ ځرګندوي چې دځان لپاره د يوې لنډې مودې دوام تمه يې درلودله.[۱۹] دسکټور وده د شريکومايکرو فينانس د ادارو د مسوولیتونو او لومړيتوبونو څخه وه ، په دې معنا چې د سکټور په نورو اړخونو کې پانګونه لکه د پور دبيلا بيلو توکو يا  څارنې او ارزونې ته لږه پاملرنه شوې ده. سکټور په ځينو برخو کې وده کړې. د افغانستان لپاره د کوچنيو پورونو د پانګونې د ملاتړ د ادارې اوسنی مديريت د خپلو مايکرو فينانس د ادارې له شريکانو سره په کار لګيادی څود حساب ورکونې، د پور د تولګې دکيفيت، او دوام موخو ته د سکټور بيا پاملرنه راواړوي تر څو د دوام او ژور ې ودې د هڅو له ځينو پايلو سره مخالفت وکړي.[۲۰]

## د سکټور وده

د افغانستان لپاره د کوچنيو پورونو د پانګونې د ملاتړ اداري په ۱۳۸۲ کال کې يې په کار پيل وکړ؛ که څه هم چې د بوديجوي خنډونو له کبله  د ۱۳۸۴ کال په اوږدوکې د يوې آزمايښي پروژې په توګه پاتې شوه. لکه چې په دوهم جدول کې ښودل شوی د ۱۳۸۵ – ۱۳۸۷  پورې سکټور په چټکه توګه وده وکړه. همدار از د مايکروفينانس د شريکانو په شمير کې هم د پام وړ زياتوالی را مينځ ته شو لکه د ۱۳۸۲- ۱۳۸۴ د خلورو څخه په ۱۳۸۵ کال کې ۱۲ ته او اوس مهال ۱۵ ته لوړ شوی.

| شاخص | جولای ۲۰۰۵ | جون ۲۰۰۶ | فیصدی هزینه | جولای ۲۰۰۷ | فیصدی هزینه | جون ۲۰۰۸ | فیصدی هزینه | جنوری ۲۰۰۹ | فیصدی هزینه |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| فعال مراجعين | ۱۲۷,۵۸۰ | ۲۰۴,۲۷۷ | ٪۶۰ | ۳۸۵۴۴۸ | ٪۸۹ | ۴۴۸۳۰۷ | ٪۱۶ | ۴۴۰۶۱۵ | ٪۲- |
| فعال پوروړي | ۱۰۳,۵۸۱ | ۱۷۵,۱۴۰ | ٪۶۹ | ۳۳۳۴۳۱ | ٪۹۰ | ۳۷۲۶۷۷ | ٪۱۲ | ۳۴۶۰۸۶ | ٪۷- |
| د خالص پور تولګه ميليونه امريکايي ډالر | ۱۲,۹ | ۳۱,۸ | ٪۱۴۷ | ۸۷,۶ | ٪۱۷۵ | ۱۱۲,۷ | ٪۲۹ | ۱۰۴,۳ | ٪۷- |
| د تاديه شوې پورونو اندازه، ميليونه امريکايي ډالرډيريدونکي | | ۸۴,۲ | | ۲۸۲ | ٪۲۳۵ | ۴۷۰ | ٪۶۷ | ۵۶۹,۹ | ٪۲۱ |
| د تاديه شوې پورونو شمير ډيريدونکی | | ۳۶۵,۷۷۸ | | ۸۰۸,۶۹۱ | ٪۱۲۱ | ۱,۱۸۴,۶۲۳ | ٪۴۶ | ۱,۳۳۵,۶۷۷ | ٪۱۳ |

Table title: دوهم جدول:  د سکټور وده

سرچينې: د افغانستان لپاره د کوچنيو پورونو د پانګونې د ملاتړ د اداري نوې معلومات د ۱۳۸۷ کال د مرغومي مياشت؛ " مايکروفينانس: بدلون رامينځ ته کوي"؛ د افغانستان لپاره د کوچنيو

[۱۹] د مايکرو فينانس د اداري مرکې، د ۱۳۸۸ کال د غويي مياشت، او د افغانستان لپاره د کوچنيو پورونو د پانګونې د ملاتړ آسانتيا د ۱۳۸۸۱ کال د غبرګولي مياشت

[۲۰] د افغانستان لپاره د کوچنيو پورونو د پانګونې د ملاتړ د اداري مرکه، د ۱۳۸۸ کال د غبرګولي مياشت؛ "مايکروفينانس: په افغانستان کې يو توپير رامينځ ته کوي،" ( کابل د ۱۳۸۷ کال د زمري مياشت)

پورونو د پانګونې د ملاتړ سکټور نوې معلومات، د ۱۳۸۶ کال د چنګاښ مياشت؛ د مايکروفينانس د خبر پاڼې لومړۍ ګڼه، لومړی ټوک، د ۱۳۸۴ کال د زمري مياشت.

پورتني معلومات د د ۱۳۸۴ کال د منځنی برخې  څخه تر ۱۳۸۶ کال تر منځنې برخې پورې د سکټور د چټکې ودې ځرګندونه کوې. او۱۳۸۶-۱۳۸۷ پورې په اندوله توګه په وده کې د پام وړ کمښت او همدا راز د فعالو مراجعينو او پور اخيستونکو وده رګندوي[۲۱] د پور نه اداکول (د خالص پور تولګې) د ۱۳۸۷ کال د غبرګولي نه تر ۱۳۸۷ کال تر مرغومي پورې يو منفي حالت ځرګندوي. چې په دې کې د افغانستان لپاره د کوچنيو پورونو د پانګونې د ملاتړ د اداري د نوی مديريت د رامينځ ته کيدو او د ودې نه  پر حساب ورکونې او کيفيت  تمرکز ته د اوښتون موده راځي. دغه شميرې د مايکروفينانس د اداري د مرکو څخه لاس ته راغلي موندنې پياوړې کوي، چې په ډيرې مرکو کې سره له هغو ګواښونو چې د بريا پروړاندې شته د پورونو وروستني کمښت او داخلي سيستم پر پياوړتيا د تمرکز ځرګندونه شوې .

## د ودې پايلې

لکه چې په دوهمه برخه کې يادونه وشوه، د افغانستان لپاره د کوچنيو پورونو د پانګونې د ملاتړ د اداري او د هغوی د شريکانو تمرکز پر عملي ثبات د سکټور د ودې په برخه کې، د افغانستان د څيړنې او ارزونې د اداري په څيړنه کې د ډيريو ځواب ويونکو مراجعينو لپاره د منفي مفهوم سره د لومړيتوب لامل کيږي.

نوموړې فشار د مايکروفينانس د ادارو لپاره يې هم پايلې درلودلې چې د ۱۳۸۸ کال د غويي د مياشتې په تر سره شوو مرکو کې ځرګندې شوې دي.

لکه چې په دوهم جدول کې دودې د وړاندې تګ د کمښت په

[۲۱] دغه دواړه ډلې د هغو پروګرامونو لپاره چې يواځې د پور توکي وړاندې کوې يوشان دي، او د هغوې لپاره چې د سپما پروګرامونه لري اغيزمن مراجعين به د سپما د مراجعينو په ګډون هغه مراجعين وي چې پور نه اخلي. او اغيزمن پور اخيستونکي هغه کسان دي چې په يوه ټاکلې نيټه پوراخلي

واسطه وښودل شود ودې ګڼ شمیر پایلې د ۱۳۸۶ او ۱۳۸۷ کلونو په وروستیو کې څرګندې شوې . دا مهمه ده چې نوموړی کمښت ته په اقتصادي او امنیتي شرایطو کې ځای ورکړل شي ځکه چې بهرني نفوذ هم د مایکرو فینانس دادارې او مراجعینو د بریا په اغیزمن کولو کې یې ونډه درلودله.[۲۲] په دې موده کې د افغانستان امنیتي حالت په پرله پسې توګه خرابیدو، چې خرابه امنیتي وضع په کسب وکار کې د زیات زیان لامل شوه او همدا راز د مایکرو فینانس ځینې ادارې یې هم اغیزمنې کړې څو په ټاکلو ولایتونو کې خپل فعالیتونه کم کړي او په ښاري او نیمه ښاري سیمو تمرکز وکړي. چې د ا ددې لامل کیږی چې د مایکرو فینانس د ادار ې پانګه په لږو سیمو کې متمرکزې شي، چې د هغو مراجعینو لپاره چې د مایکروفینانس د څوګونو ادارو څخه د ګډ کیفیت درلودونکو تولګو پوروړې دي د سیالیو لامل کیږی. [۲۳]

دهیواد ګڼ شمیر سیمې په ځانګړې توګه شمالي برخې په پرله پسې توګه وچکالۍ ځپلې دي چې له امله یې اقتصادي فعالیتونه په ښار او کلیوکې محدود شوي نوځکه د پانګې اچونې او قسط ظرفیت یې محدود کړی دی. کورنۍ ا و سیمه ایز ې کډوالۍ په ځینو سیموکې د توافق کولو یوه معمولي تګلاره ده .[۲۴]په ۱۳۸۷ کال کې د خوراکي توکو د بیې نړیوال لوړوالی د زیاتواقتصادي فشارونو لامل شو او همدا راز د پور لپاره یې غوښتنې محدودې او د قسط ورکولو وړتیا یې اغیزمنه کړه. د پاکستاني روپیو د ارزښت را ټیټیدل د پاکستان سره په ګډو پولو کې چیرې چې اکثراً د راکړې ورکړې لپاره پاکستاني پیسې په کارول کیدې د خلکو معیشت یې نور هم اغیزمن کړ.

د ځایي اقتصاد او پانګونې د فرصتونود پیژندنې په موخه د مایکرو فینانس د ګڼ شمیر ادارو له خوا د پانګونې ټیټې کچې او اقتصادي شرایطو ته په پام سره د مایکرو فینانس د ادارو د قسط د اندازې را ټیټیدل د حیرانتیا وړ خبره نه ده. د مایکروفینانس ګڼ شمیر ادارې د مراجعینو د پور د نه اداکولو د خطر د زیاتوالې له کبله د یو لړ فشارونو لاندې وو؛ چې دې د مایکرو فینانس د ادارو د پور ارزښت یې د افغانستان لپاره د کوچنیو پورونو د پانګونې د ملاتړ د ادارې په وړاندې اغیزمن کړ. د مایکرو فینانس دوو ادارو د پاتې شوو پورونو بیا لاس ته راوړنې باندې د تمرکز لپاره د یو ې مودې لپاره یې پور ورکول وځنډول ، او یوې بلې یې د پور د حساب څخه یې یو زیات شمیر پورونه دبیا ادا کولو نه وړ په نامه له مینځه و ایستل، او بله یې کوچیانو ته د پور ورکولو له کبله په دې ونه توانیده چې پورونه بیا لاس ته راوړي. [۲۵] د مایکرو فینانس ادارې

[۲۲] دغه ټکی ته د لیکوال پام د یو نا آشنا بیا کتونکې له خوا را واړول شو.

[۲۳] دا د معیشت د بدلون په اړه د هغه عملي کار پر بنسټ را مینځ ته شوی چې د افغانستان د ځیرنې او ارزونې د ادارې له خوا د سر پل په ولایت کې تر سره شوی دی.

[۲۴] د افغانستان لپاره د کوچنیو پورونو د پانګونې د ملاتړ د ادارې مرکه، د ۱۳۸۸ کال د غبرګولې میاشت.

[۲۵] مرکه د ۱۳۸۸ کال د غبرګولې میاشت. MISFA

ځواب ویونکو د د غه کمزورې لړۍ ستونزه یې د مایکرو فینانس په ضعیف مدیریت او د پروګرام د جوړښت سر ه چې د مراجعینو د معیشت او مالي ظرفیت سره سمون نه لري اړوندې وګڼلې. او ښایي دغه کمزورې لړۍ د مراجعینو د شمیر د زیاتوالې په هڅو او هغو پریکړو پورې اړوندې وي چې پر بنسټ یې هغو مراجعینو ته پور ورکوي چې د ډیرو پور اخیستلو وړتیا یې نه درلودله.

دودې لپاره د هڅې بله پایله د مایکرو فینانس د ادا رې چټکه پراختیا وه پرته له دې چې د خپلو کارکونکو د وړتیا د لوړلو په موخه ښوونیز و پروګرامونو باندې پانګونه وکړي او یا د څارنې او داخلي پلټنې سیسټم رامینځ ته کړي چې دا په خپله په سیسټم کې د درغلۍ یو مهم لامل وو.[۲۶] د مایکر فینانس د مرکه شوو دیارلسو ادارو له ډلې څخه اوو (۷) یې د کارکونکو او مراجعینو په مینځ کې د درغلیو د ستونزو یادونه وکړه. دا اکثراً هغه وخت را مینځ ته کیږي چې یوه کس ته پیسې ورکول کیږي او بیا د هغه نوم له ثبت شوو اسنادو څخه ورک کیږي چې په اصطلاح کې ورته ”روح مراجعین“ وایي. چې ښایي په نوموړو د رغلیو کې د مایکرو فینانس د ادارې کارکونکي هم لاس ولري چې دا د داخلي کنټرول د نشتوالې له کبله رامینځ ته کیږي او د قسط اوسنۍ ستونزې د داخلي بیا کتنې لامل کیږي.

ګڼ شمیر د مایکروفینانس ادارې په کمپیوټرې سیسټم د خپلو د چارو د سمبالولو لپاره ډیر ورو پر مخ ځي. چې دا حالت په ځانګړې ډول د مایکروفینانس په څانګو کې تر سترګو کیږي چې ښایي د بیخبنا نشتوالۍ ددې سره د نه مرستې لامل وي. د څار او مدیریتي معلوماتو د سیسټم نشتوالۍ ، که څه چې کمپیوتري او یا لاسي وي ، دواړه د پور د آمر د چټکې ګمارنې سره تړلۍ دی څو د پام وړ مقیاس پوره او د ښوونیز پروګرام په برخه کې هم لږ څه پانګونه وشي، چې دې ټولو د درغلیو لپاره یې لاره هواره کړې ده. سر بیره پر دې سره له دې چې په افغانستان کې د مایکرو فینانس زیاتره ادارې د هغو نړیوالو سازمانونو سره چې د مایکروفینانس په برخه کې د پام وړ تجربه لري، اړیکې لري، ډیرو لږو مرکزي دفترونو د خپلو افغاني څانګو څارنه یې کړې او یا د پلټنې او یانورو کنټرولونو لپاره یې یوه تګلاره وضع کړې ده. [۲۷] چې دا هم په خپل وار د درغلیو د رامینځ ته کیدو لامل کیږي.

په پای کې هغه هڅې چې د مایکرو فینانس د ادارې د فعالیتونو د دوام لپاره د مراجعینو په شمیر کې د چټکې ودې او په غلطه توګه د پور ورکولو له لارې شوې وې، د مایکرو فینانس ګڼ شمیر ادارو د درغلیو او د پور د ورکیدو له امله یې د فعالیتونو د ثبات د کمیدو یادونه یې وکړه. سر بیره پردې د دیارلسو مایکرو فینانس د ادارو له ډلې څخه چې ورسره مرکې شوې وې اوو(۷) یې خپلو

[۲۶] دغه څانګه په ځینو حا لاتو کې قانوني سلاکاران لري چې د د درغلیو او د هغو دپایلو په اړه د پوهاوي کچه لوړوي.

[۲۷] د مایکرو فینانس د ادارې مرکې د ۱۳۸۸ کالد غویي میاشت.

کارکونکو او فعالیتونو کې د کمښت یادونه وکړه او له دې ډلې څخه دوه یې په خپلو ادارو کې د سمون تر رامینځ ته کولو پورې یې د MISFA مالي مرستې له لاسه ورکړې وې. د سمون بهیر یوازې د مایکروفینانس په همدې دواړو ادارو پورې محدود نه دی. په راتلونکې برخه کې د سکټور د کړنو د اصلاح په موخه به د MISFA او د هغوی د شریکو مایکروفینانس ادارو د جوړښت، بهیر او توکو د بیا ارزونې څرنګوالی و ارزول شي .

## په بهیر کې سمون

دمایکرو فینانس د اداري د سکټور په کچه سمون د MISFA له خوا دهغو بدلونونو له لارې چې دمایکروفینانس ټولې شریکې ادارې یې اغیزمنې کړې او همدا راز دمایکرو فینانس د انفرادي ادارو له پلې شوي بدلونونو له لارې رامینځ ته شو. د مایکرو فینانس د دیارلسو مرکه شوو ادارو له ډلې څخه یوولسو یې یو لړ سمونونه په لاره اچولي دي، ځینو یې یوازې نوې توکې رامینځ ته کړي او یا هم موجوده توکې یې تنظیم کړې دي، په داسې حال کې چې یو شمیر نور یې بیا پراخو بدلونونو کې بوخت دي. د مایکرو فینانس د دوو ادارو له ډلې څخه چې دا بهیر یې نه دی پیل کړی یوه یې په افغانستان کې نوې ده او بله یې دمایکرو فینانس د یوې بلې ادارې سره د یوځای کیدو په بهیر کې ده. کله چې په تیر کال کې د مهم بدلون په اړه پوښتنه وشوه، د دیارلسو ادارو له ډلې څخه پنځو یې د MISFA سره د اړیکو د ښه والي یادونه وکړه. چې دا په ژوره توګه د MISFA د تمرکز له بدلون سره اړوند دی چې داسې انګیرل کیده چې نوموړې بدلونونه د مایکر فینانس د ادارو په خوښه وو ځکه چې د مایکرو فینانس د ادارو وړتیا، حساب ورکونه او کیفیت ته د سکټور د ودې په پرتله لومړیتوب ورکړل شوی دی. ځینو بیا ویل چې په تیره موده کې یې د حکومت او MISFA له خوا فشار ونه ګاللې وو چې دا د کمزورو عملیاتي پریکړو او د یو لړ ستونزو لامل شوې وو.

MISFA څه ډول وړتیا ، حساب ورکونې او کیفیت ته چې د سکټور په کچه یې چارې اغیزمنې کړې خپله زیاته پاملرنه راواړوله؟[28] یوه لاره یې د مایکرو فینانس د ادارو د پروګرامونو لپاره د یوې رښتینې مشغولا پلان د رامینځ ته کولو اړتیا ده. چې دا د پور د توکو د بدلون او پراختیا په برخه کې د پلانونود عملي کیدنې د امکاناتو د ښه قضاوت او همدا ر از د چارو په سرته رسونه کې دمایکرو فینانس دادارو د مسوول پاتې کیدنې سره مرسته کوي. بل بدلون دا دی چې د مایکرو فینانس شریکان اوس د خپلو کارکونکو د وړتیاوو د لوړولو او په ساحوي چارو کې د مدیریت د تشې د په نښه کولو په موخه یو ښوونکې لري. چې دا ښوونکې د MISFA څخه لاربښوونې تر لاسه کوي او د مایکرو فینانس د ادارو مرکزي دفترونو او سیمه ایزوڅانګو ته یې رسوي. او وروستي بدلو ن د مایکرو فینانس په ادارو کې د داخلي پلټنې د څانګې پرانیستل دي،[29] چې د مایکرو فینانس د اصلي سازمانونو له خوا د څارنې د نشتوالي په غبرګون کې را مینځ ته شوې ده چې د څارنې د مسوولیت پیټی یې د MISFA پر اوږو کینبود چې هڅه کوي چې مایکروفینانس په ادارو کې دې بیا رامینځ ته شي. تمه کیږي چې د پلټنې څانګې به داخلي کنټرول ته وده ورکړي او د درغلې پیښې او فرصتونه به کم کړي. د مایکروفینانس ادارو ته بل وړاندیز شوی بدلون دادی چې دخپلو څانګو څخه د مراجعینو قسطونه راټول کړي. چې دا به د مایکرو فینانس ادارو ته به لاره هواره کړي څو د نغدو پیسو اداره تر کنټرول لاندې ولري مګر دا کار مراجعینو ته دګواښ او د را کړې ورکړې زیان به لوړ کړي. که چېرې د پورونو نورې سرچینې وکړای شي چې د پیسو ورته اندازې مګر د لږو مستقیمو او غیر مستقیمو زیانونو سره وړاندې کړي نو ښایي د کوچنیو پورونو لپاره د مراجعینو غوښتنې به کمې شي.

د MISFA مشر تابه هم د پور د توکو او د پور ورکولو د کړندود پر تنوع و غږیدلو.[30] او دا د نوموړو بدلونود چټکتیا څخه ملاتړ کوي او له دغه شان پراختیا څخه وړاندې د خپلو مایکرو فینانس شریکو ادارو کې د داخلي کنټرو ل پر رامینځ ته کیدو ژور ټینګار کوي. د مالي توکو او کړندودونو د پراختیا لپاره تیاری کې MISFA دنویو توکو او کړندودونو په هکله د یوې عملي څیړنې څخه ملاتړ کوي. او دا سې شواهدرامینځ ته کوي څو د توکو د نوو طرحو په اړه خبرتیا ورکړي او د غوښتنو شتون تضمین کړي. ځینې موضوعات چې MISFA د هغو په اړه یې څیړنې تر سره کړې او یا په پام کې یې لري دا دي: د توکو دسپمالپاره غوښتنه، د کرهنیزو پورونو توکو لپاره غوښتنه تر څو معلومات تر لاسه شي چې څه ډول توکو ته اړتیا ده، او د مراجعینو مینه د اسلامي بانکي کړندودونو سره. تیرو کړنو ته په پام سره، MISFA دغیر باوري شواهدو پر بنسټ د علاقې د بدلیدونکې کچې یادونه وکړه. خو دا لا تر اوسه څرګنده نه ده چې که چیرې دغه توکې د پور له موجودو توکو څخه زیات ګران وي نو آیا غوښتنې به همداسې پیاوړې پاتې شي. که څه هم چې دمایکرو فینانس ځینې ادارو له مخه په ځینو حالاتو کې د درغلیو څخه دمخنیوی لپاره د نغدو پیسو پورونه یې کم کړي دي . کله چې د مایکرو فینانس توکي او کړندودونونه جوړیږي د پور د مارکیټ د دغې برخې د عمومي پیژندلو په اړه د مایکروفینانس د کارکونکو د عمومي ټینګار سر ه سره د غیر رسمي پور شتون او د هغې د ونډې آزمویل د په پام کې نیول شوې څیړنې برخه نه ده. وروستی نوښت چې MISFA په دې وروستیو کې په کارولې دی د مایکروفینانس د ادارې د رپوټ کارتونه دي. چې دا د مایکرو فینانس د ادارې د مهمو کړنو او یا د وړتیا د شاخصونو د بیا کتنې د ترویج یوه ښه وسیله ده. دغه شاخصونه ګڼ

[28] روګلي، ''د مایکرو فینانس په اړه باور'' ؛ جانسن او روګلي مایکرو فینانس او د بیوزلۍ د کچې را ټیټول؛ جیوفري اوود،'' د ګیټو( د ښار هغه برخه چې یوه ډله د اقتصادي او ټولنیزو فشارونو له کبله هلته ژوند کولو ته اړ دي) څخه تیښته: د بیوزلو لپاره ددندو او پور را مینځ ته کول''، په څوک پور ته اړتیا لري کې ؟ عفت شریف او جیوفري اوود، په څوک پور ته اړتیا لري ، ''پایلې''؛ ستوارت روترفورد، بوزلې او د هغوی پیسې( دهلي ، د آکسفورد د بوهنتون خپرونه ۱۳۷۹) راجا احسان عزیز، ''په افغانستان کې د کوچنیو پورونو لپاره پانګونه: تګلارې او واک''، ( کابل: د افغانستان لپاره د مرستو د همغږۍ اداره ۱۳۷۹)

[29] MISFA مرکه د ۱۳۸۸ کال د غبرګولې میاشت.

[30] د مایکروفینانس د اداري مرکې د ۱۳۸۸ کال د غویې میاشت.

شمير بدلونونه چې وړاندې څرګند شول منعکسوي او MISFA ته هغه ستنونزمنی برخې چې ښايي د شريکانو په مينځ کې موجودې وي را بر سيره کوي او دا چې دنوموړو ستونزو د په نښه کولو په موخه کوم بدلونونه را مينځ ته شوي دي  په ډاګه کوي. د مايکروفينانس ادارې څلورکټګورۍ يې ارزولي دي:

د ادارې ډول او د مديريت ظرفيت، ثبات او عايد، د معلوماتو د مديريت ظرفيت، او اغېزې او پايلې. او ددې هر يويې په فرعي کټګوريو ويشل شوې دي چې لاندې پرې بحث شوی دی.

د ادارې د ډول او مديريت د ظرفيت د کړنو ډګر پنځه فرعي موضوعګانې لري. لومړۍ يې د يو خپلواک مديره هيأت شتون، د غونډود ترسره کيدو وار، د غونډو اسناد، او د ګډون کچه تثبيتوي. چې دا دمايکرو فينانيس د ادار ې لپاره بهرنۍ څارنه څرګندوي او د مشرتابه د مسوول ساتلو يوه وسيله ده. دوهمه فرعي موضوع د سيمه ايز مشرتابه شتون پورې اړونده ده. د ګمارنې د ننګونو د په پام کې نيولو سره نوموړې شاخصونه څرګندوي چې آيا: پوستونه ډک دي او که نه، دغه کس په هيواد کې ميشت دی، افغان دی، اړوندې تجربې لري، کلنۍ کاري پلان يې جوړ کړی. دا ټول خو په ځانګړې ډول وروستی شاخص د "افغاني کولو"يعني په مشرتابه کې د يو افغان شتون پر لوړې هڅې څرګندوي .

بله فرعي موضوع د مايکرو فينانس د ادارې د مالي څانګې د ګمارنې ، وړتياوو او کړنو ارزونه کوي. د مالي څانګې د مدير شتون او وړتياوې، د يوې نامناسبې پلټنې تر سره کول، د کلنۍ بوديجې سمبالونه، د يو مالي لارښود کتاب موجوديت ، او د MISFA په مشرۍ د داخلي پلټنې اندازه مستندوي. او بله فرعي موضوع پر لاندينيو ټکو تمرکز کوي: داخلي پلټنې، د داخلي پلټنې د نوې څانګې د شتون مستندول، دا چاته رپوټ ورکوي، آيا اصلي ادارې يوه پلټنه تر سره کړې ده، آيا دمايکروفينانس د څانګو پلټنه ترسره شوې او ستونزې يې په نښه شوې دي، او آيا د توافق لپاره  لارښود شتون لري.  د ادارې د ډول او د مديريت د وړتيا په برخه کې وروستنۍ فرعي موضوع په لاندينيو ټکو تمرکز لري: افغانان د مديريت په لوړو او منځنيو پوړيو کې، دکارکونکو په کچه کې بدلون، او د ګمارنې ټوليزه کچه. او په وروستی برخه کې د کارکونکو په شمير کې د ژورې تشې پر نه شتون تمرکز، چې دا کار د مايکرو فينانس په اداره کې د ګمارنې د ۸۵ سلنې معيار او يا تر هغه لوړې کچې ته د رسيدو له لارې تر سره کيدای شي.

ثبات او د عايد لاسته راوړل د کړنو بله کټګوري ده چې د دريو فرعي موضوعګانو له لارې څرګنديږي. چې لومړۍ يې ثبات او پر مقياس او مالي شاخصونو تمرکز دی، لکه پراختيا او جغرافيايي پوښښ، د پاتې پورونو لړۍ، د عايداتو له لارې د فعاليتونو د لګښت شريکول او جبرانول، او د پور منځنۍ اندازه. او بله فرعي موضوع د کيفيت لړۍ ده، هغه برخه چې د مايکروفينانس ادارې په کې له ستونزو سره مخامخ دي. په دې شاخصونو کې د پور د هغو ټولګو شريکيدل چې د نه ادا کولو له ګواښ سره مخامخ دي، د قسط اندازې، د مايکر فينانس د ادارې د پور ونو له حساب څخه د پورونود حذفولو نسبت هم راځي. وروستی فرعي موضوع اغيزمنتيا، د يوه مراجعه کوونکي پر سر د لګښت شاخصونه، د عملياتو لګښت، د پور د لاسه ورکولو څخه د مخنيوي سلنه، د پروګرام څخه د مراجعينو د وتلو اندازه، د پور د يو آمر د مراجعينو شمير(هڅه کيږي چې له ۲۲۵ څخه زيات وي) وروستنی شاخص د اغيزمنتيا او د د خدمتونو د وړاندې کولو د کيفيت تر مينځ د راکړې ورکړې، په ځانګړې توګه د مايکرو فينانس د ادارې د پروګرامونو په اړه د پوهې او د هغو قوانينو چې د افغانستان د ځيرنې او ارزونې د ادارې په مطالعه کې د ځواب ويونکو له خوا په نښه شول ، د نشتوالې په اړه پوښتنې را پاروي. چې د پور د يو آمر د مراجعينو د شمير زياتوالی ښايي د مراجعينو دخوندې کولو لپار ه زيانمن پريوځي آن که چيرې په نورو شرايطو کې د کم لګښت يا د يو مناسب معيار په توګه هم په پام کې نيول شوی وي.

د معلوماتو د مديريت ظرفيت بله کټګوري ده چې ديوې فرعي مو ضوع درلودونکې ده چې د معلوماتو د مديريت پر سيستم تمرکز کوي چې د هغې لپاره د مرکزي دفتراو څانګو شاخصونه په کمپيوټري سيستم سمبال شوې دي، او د مياشتنې مالي رپوټونو د جوړولو وړتيا. بنسټيزې اړتياوې او د سيستم د کارولو په برخه کې د کارکونکو وړتيا د ارزونې عناصر نه دي.

د کړنو وروستی کټګوري اغيزې او توکي دي چې د يوې فرعي موضوع درلودونکې ده چې په دې دواړو موضوع ګانو تمرکز کوي. د اغيزې فرعي موضوع په اصل کې د مايکر فينانس د ادارې پر مراجعينو او هغو په پام کې نيول شويو توکو چې آيا د بيوزلو په ګټه يو کړندود يې کارولی دی، آيا موخه يې بيوزلې ده، د کليوالو مراجعينو سلنه، او د کرنې / مالدارۍ پورونو پر سلنه تمرکز کوي. همدا راز د ښځينه مراجعينو ونډه، د هغو ولايتونو شمير چې په کې د مايکرو فينانس ادارې فعاليت لري (د کابل پرته)، د پور د راغونډولو د وار شمير، او د بهرنۍ تر سره شوو ارزونوشمير. د پور د راغونډولو د وار شمير د يوه پور په برخه کې کال کې دوه ځله ټاکل شوی دی، داسې ښکاري چې د يوه اوږده ضرب الاجل سره به مرسته وکړي. د پور د ډولونو، ښځينه او کليوالو مراجعينو لپاره وضع شوې معيارات اختياری او په خپل سر ښکاري، او د محصول مستندول د اغيزو په وړاندې يا د په پام کې نيول شوو لاس ته راوړنو پايلو سره پای ته رسيږي. د غه محدوديتونه ښايي د کړنو په ډيرو برخو کې راغلې وي او ددې برخې په وروستی برخه کې بيا راځي. د ستونزو له امله ښايي د "اغيزې "د اصطلاح په کارول به په سطحي توګه وي.

د توکو فرعي موضوع د هغو توکو ترکيب مستندوي چې د مايکروفينانس د ادارې له خوا وړاندې کيږي، چې ډيرو توکو سره به دا ښه وي. د خپلې خوښې سپما او بيمه ددوو په پام کې نيول شوو توکو کې شامليږي چې د خر ځلاو په حال مالي خدمتونو

د لړۍ پراختيا ته پاملرنه څرګندوي. که څه هم چې دغه شاخص د توکو د جذبولو په برخه کې د ځواب ويونکو د غبرګون د تر لاسه کولو لپاره هڅه نه کوي، داسې ښکاري چې د تنوع ارزښت د غوښتنو پر بنسټ د توکو له بدلون څخه بېل دی . يو ساده شاخص د هغو مراجعينو د ونډې پر بنسټ چې يو توکی په کاروي کولای شي چې د دغې بدلون په اړه د مراجعينو غبرګون تر لاسه کړي.

د مايکروفينانس د جوړښت، ظرفيت او کړنو د ارزونې د يوې بنسټيزې وسيلې پر لور خوځښت يو مثبت بدلون دی. ګڼ شمير شاخصونه به د مايکرو فينانس د ادارې د کړنو ارزښتناک اصلاحات به د يو بشپړ سکټور په توګه به مستند کړي او د هغه لومړيتوبونو لپاره به هڅه کوي کوم چې د MISFA له خوا رامينځ ته شوي دي. سره له دې په ځينو حالاتو کې شاخصونه د هغه معلوماتو په پرتله چې ښايي ويې لري ډير محدود معلومات وړاندې کوي ځکه چې په لومړي سر کې دوی پر توکو او شميرو تمرکز درلود او هڅه يې نه کوله چې د خدمتونو د کيفيت او پايلو په اړه معلومات ولري. MISFA دايي په ډاګه کړه چې لکه څنګه چې د مايکرو فينانس ادارې د سمون خواته رواني دي دا د ارزونې لپار ه يوه پخه وسيله ده.

په داسې حال کې چې MISFA يو لړ اصلاحات يې د خپلو متحدو مايکرو فينانس په ادارو کې پيل کړي دي ، دمايکرو فينانس ادارو هم په خپلو چارو کې يې يو شمير بدلونونه رامينځ ته کړي دي. چې ګڼ شمير يې د پورورکونې کړندودونو او د پور په توکو پورې اړوند دي، چې کله کله د مراجعينو د څرګندو او ضمني غوښتنو سره په غبرګون کې رامينځ ته کيږي. ځيني نور هغه بدلونونه دي چې د پورونو د ټولګي د کيفيت له ستونز و څخه را مينځ شوي او وړاندې يې يادونه وشوه.

د مايکرو فينانس ځيني ادارې د درغلۍ او د قسط د ټيټي کچې له امله يې خپل فعاليتونه کم کړي دي. دوو ا دارو هغه نوې رامينځ ته شوې کړنلارې يې چې په راتلونکې کې به ددغه شان ستونزو په وړاندې د ځار دنده ولري په تفصيل سره څرګندې کړې دي. له يوې خوا موخه يې د جرمونو او کارکونکو د درغليو دلوړې کچې سره په غبرګون کې د يوې تمايل لرونکې ادارې رامينځ ته کول دي. چې د څانګو او کارکونکو د شمير کمول د نوموړې غبرګون يو ه برخه ده. او دوهمه برخه يې د سيمه ايزو، څانګو او د پور مديرانو ته د کوچنيو پورونو، محاسبې او د ساحوي عملياتو د اساساتو په اړه روزنيزو پروګرامونو ته د ډير وخت او پاملرنې ځانګړې کول دي. دا د MISFA له غوښتنو او د داخلي کنټرول له سيسټم له غوښتنو څخه پيروي کوي لکه د يو خپلواک عملياتي ادارې له لارې د پور د ډلې د موجوديت ارزول. او په دوهم حالت کې د درغليو د ګواښ د راکمولو په موخه د نوې داخلي جوړښت او دوړتيا د لوړولو د نوو پروګرامونو رامينځ ته کول دي. چې د پور آمرين د دواړو بدلونو موخه ده. چې د وی د نغدو پيسو له په لاس کې درلودلو څخه منع دي، يوه بيله ډله به د مراجعينو د دوسيو او اسنادو د ساتلو دنده پر غاړه ولري څو د پور د آمرينو او يا نور و وړتيا د روح مراجعينو (هغه مراجعين چې د پور د اخيستلو څخه وروسته لادرکه کيږي) د رامينځ ته کيدو په برخه کې را کمه کړي. د مايکرو فينانس د غه ادارې د ګمارنې يوه نوې پاليسي يې رامينځ ته کړې ده چې له مخې به يې نوې ګمارل شوې کارکونکې به درې ضمانت کوونکې وړاندې کوي چې د درغلۍ په صورت کې به هغوی د اووښتې زيان تاوان به ورکوي. د پور آمرين د مايکرو فينانس په زياترو ادارو کې د لومړي خط د کارکونکي دي نو ځکه د مراجعينو سره د اړيکو او همدا راز د مايکرو فينانس د ادارې د بشپړتيا او ايمانداری په ساتلو کې لکه څرنګه چې په ۲ چوکاټ کې ښودل کيږي يوه ارزښتناکه ونډه لري. سره له دې چې ښايي دوی د خپلو د اړونده مسوولينونه په اړه کومه روزنه او يا اړينه پاملرنه نه وي تر لاسه کړې د مايکرو فينانس ځيني ادارې هڅه کوي چې دا بدل کړي.

د هغو بدلونو سر بيره چې په لنډه توګه يې يادونه وشوه، ګڼ شمير د مايکرو فينانس ادارو د MISFA د هغو بدلونونو څخه وړاندې چې د خپل د کاري څيرنې د اجندا له لارې يې په لټه کې دی د پور په توکو او په کړندودونو کې د بدلون په هکله خبرې کوي. نوموړې بدلونونه په ځينو حالاتو کې د مراجعينو لپاره د زياتې نرمی په مفهوم دي چې مثبت او د افغانستان د څيرنې او ارزونې د ادارې د څيرنې د هغو موندنو سره سم دي چې د کوچنيو پورونو د مراجعينو څخه لاس ته راغلي دي. دغه نرمښت په ځينو حالاتو کې د پور په اندازه کې دی د مايکرو فينانس د ادارو ځينې پروګرامونه ددې لپاره چې مراجعينو ته ستر پورونه وړاندې کړي د پورونو نوې انفرادي توکي پلې کوي. که څه هم چې د مايکروفينانس ادارې دا په ډاګه کړې چې هغه څه چې مراجعين ورته د ډير واړه پور په سترګه ګوري په دې سيمه کې دومره اغيزمن نه دی. همدار از د قسط د وخت په برخه کې هم له ډير نرمښت څخه کار اخلي او دا واک مراجعينو ته ورکوي چې په اوونيزه او يا مياشتنی توګه خپل قسطونه ادا کړي. چې دا يو خورا مثبت خوځښت دی . د مايکرو فينانس نورو ادارو ورته بدلونونه رامينځ ته کړي دي چې په ځينو حالاتو کې مراجعينو ته دا اجازه ورکوي چې د پور د آمرينو سره په تفاهم کې د قسطونو د ادا کولو لپاره وخت وټاکي. همدا شان، د ضرب الاجل په برخه کې هم ځيني بدلونونه رامينځ ته شوي دي او د مايکرو فينانس ځينو ادارو د کسب وکار سره اړوند د نغدو پيسو د شتون د په پام کې نيولو سره د ځانګړو پورونو لپاره يې نوموړی ضرب الاجل غځولی دی. چې دا د غالی اوبدلو د پور د توکو او کرنې او مالدارۍ د پورونو لپاره تر سره شوې دي.

د کليوالي مالي توکو د وړاندې کولو د ستونزو سره سره چې د دغه فعاليتونو د لړو ګټو د ويرې سره اړوندې دي، د مايکرو فينانس ډيرې ادارې د کرنې او مالدارۍ د پورونو وړاندې کونه را سپړي. که څه هم چې، په دغه شان پور ورکونه کې د شته ګواښ د ارزولو لپاره د يوې منسجمې کړنلارې شتون نه تر سترګوکيږي ، خو د MISFA د ارزونې اړتيا په ډاګه کوي چې په دې برخه کې څه ډول

دوهم چوکاټ: د پور د آمر ونډې

د مايکروفينانس ادارې د پور آمرين يې د کوچنيو پورونو اړوندو ورځنيو چارو د سمبالولو په موخه ګمارلي دي. د پور آمرين په عادي ډول د پروژې له سيمو څخه دي او ځايي ټولنو ته د لاس رسی او د هغې په هکله د معلوماتو ددرلودلو له کبله په نوموړ دندو ګمارل شوې دي. په ټوليزه توګه ددوی دنده د کوچنيو پورونو په هکله د معلوماتو په رسولو کې د مراجعينو سره د اړيکو ساتل او د پورونو دسمبالو د ورځنيو چارو تر سره کول دي. د پور آمرين د مراجعينو اقتصادي وضعيت ارزوي نوځکه تل دا واک لري چې د مراجعينو دوړتيا پر بنسټ هغوی رد اويا يې ومني. همدا شان د پور آمرين د کليوالو او د مايکرو فينانس د ادارې تر مينځ د ور د ساتونکي رول لوبوي. د مايکروفينانس د ادارې او د مراجعينو تر مينځ د مينځګړې په توګه بايد د دواړو خواوو تر مينځ خپل حضور په ډاګه کړي. دپور آمر بايد د هغه کړندود سره سم چې د مايکرو فينانس د ادارې له خوا وضع شوی بايد د دندو د سرته رسولو ضمانت وکړي او د پروګرام مثبتې پاليلې بايد مستندې کړي. دواړو موخو ته رسيدل ننګونکی دی، لږ هم نه، ځکه د پور آمرين په ورځنی توګه د مراجعينو سره په مخامخ کيدو کې د پورونو او قسطونو له کبله ډيرې ستونزې ګالي. لکه څرنګه چې د څيرنې تر پوښښ لاندې دريو کليو کې په ډاګه شوه دغه ستونزې او فشارونه ددې لامل کيږي چې د پور آمرين د پور د پروګرام قوانين په نرمی يا له انعطاف د منلو سره پلې کړي، او همدا راز ددې تضمين چې ځانګو او سيمه ايزو دفترونو ته د برياليتوب په اړه د رپوټ ورکول اکثراً د پروګرام د مدير د فشار لاندې تر سره کيږي. چې دا کيدای شي چې يو کمزورې دنده وي.

د مايکرو فينانس ادارې کولای شي د ونډې د ښه تاييد او د پو ردآمر دځايي پوهې ، د بسيا روزونو څخه ګټه پورته کړي او دوی د دندو لپاره چمتو کړي. د پور آمرين د ځايي سيمې د اقتصادي شرايطو په اړه د پراخې پوهې خاوند دي او د مراجعينو سره يې شخصي اړيکې هم رامينځ ته کړې دي. ددوی ونډې کيدای شي د پور د پروګرامونو د ټوليزې څارنې او ارزونې په جوړښت کې د ددوی د پوهې د ګډولو له لارې زياتوالی ومومي. دا ښايي دچاپيريال د شرايطو سره سم او د ټولو ښکيلو اړخونو په ګټه د پروګرام د جوړښت په سمبالولو کې مرسته وکړي.

پرمختګ وکړي. د بيلګې په توګه، د مايکرو فينانس يوه اداره به د خپلو کرهنيزو پورونو لپاره به غځول شوی ضرب الاجل وړاندې کړي او همدا راز په پام کې لري چې د هغو ګواښونو د منعکسولو لپاره چې ورسره مخامخ دي يو لوړ فيس به وټاکي. سره له دې د مايکرو فينانس بله اداره به د هغه قضاوت له مخې چې دغه سکټورکمزوری دی او د لوړو فيسونو سره مرسته نشي کولای نو دوی به د خپلو نورو توکو په پرتله به ډيرې لږ ګټې وټاکي.

اسلامي پانګونه د مايکرو فينانس د ځينو ادارو د سپړنې لپاره بله برخه ده. لږ شمير د مايکروفينانس ادارې له پخوا نه د شريعت سره سم توکې وړاندې کوي په داسې حال کې چې نور د اکار يې پلې کړی او يا د يو فرصت په لټه کې دي. [31] چې د ا په افغانستان کې د مايکرو فينانس په برخه کې به يو پرمختګ وي چې بيا د يوې کره څيړنې اړتيا په ډاګه کوي څو دا تضمين کړی چې آيا د مراجعينو د غوښتنو سره په غبرګون کې سم توکې وړاندې شوې دي.

اوس مهال د سپما او بيمې په برخه کې لږ نوښتونه تر سترګو کيږي چې دا په ژوره توګه د توکو د پراختيا څخه وړاندې د سازماني ظرفيت د خنډونو او د سازماني پراختيا د اهميت له کبله دي. يواځې د مايکرو فينانس يوه اداره د امانت سپما فرصتونه برابروي په داسې حال کې چې بله يې د خپل ځان سره د مرستې ډلې بيلګه تر آزموينې لاندې نيولې ده چې سپما ته پر پور لومړيتوب ورکوي او د ډلې سپما د ډلې داخلي پورونو لپاره ساتي. په نورو ډيروبيلګو کې سپما( که لازمه وي) د مايکرو فينانس د ادارې له خوا په لاره اچول شوې چې اکثراً د پور د نه اداکولو په وړاندې يوډول ضمانت بلل کيږي. د افغانستان په شرايطو کې د بيمې د توکو نشتوالی، د معيشت د يو لړګواښونو د په پام کې نيولو سره چې مراجعين ورسره مخامخ دي، د هيلو سره سم او په وخت په نښه کيدلای شي. دا ډول توکي د زيانمننې او د نرمښت د زيا توالي د په نښه کولو په برخه کې په انفرادي کچه (لکه ناروغي) او يا د ټولنې په کچه ګواښونو (وچکالي،وبا او داسې نور) خورا ارزښتناک پرمختګ را مينځ ته کولای شي.

د مايکرو فينانس د ادارې په کړنو کې ددغو اصلاحاتو او بدلونونو سره سره، MISFA دا يې منلې چې د مايکرو فينانس ټولې موجوده ادارې مطمينې نه دي چې د اوسني رکود څخه به وژغورل شي. [32] چې د ا د اوسنيو شرايطو د يوې پاليلې په توګه د سکټور ادغام په پام کې لري، چې د مايکرو فينانس د ادارو په شمير کې چټک زياتوالی څرګندوي. د څارونکو فعالينو د شمير د کموالي له کبله دا ډول يو ځای کيدنه ښايي چې د کيفيت کنټرول ته به وده ورکړي. که څه هم چې دا ډول يوځای کيدنې بايد د مراجعينو د ګټو دپه پام کې نيولو سره تر سره شي، نه دا چې د مراجعينو معيشت زيانمن کړي.

د دواړو ستونزو يعنې د دا خلي جوړښت ستونزې چې د مايکرو فينانس ادارې ورسره مخامخ دي او د کوچنيو پورونو په برخه کې د دولت د غوښتنو د پوره کولو او مديريت په برخه کې د ستونزو د پام کې نيولو سره د يوه هيئت را مينځ ته کيدو ته اړتيا ده چې د دولت د فعالينو په وړاندې د مايکرو فينانس د ادارو له ګټو څخه

[31] په دغه بهير کې د نوموړو وړاندو شوو توکو په اړه ددينې پوهانو فتوا هم شامليږي.

[32] ” د افغانستان د بيا رغولو وجهي صندوق: بهرنۍ ارزونه“.( اوسلو: د ارزونې ډله، ۱۳۸۷).

دفاع وکړي او همدا راز ذاتي کنټرول وهڅوي. د افغانستان د مایکرو فینانس ټولنه (AMA) کیدای شي چې داسي یو هیئت وي. چې په ۱۳۸۴ کال کي را مینځ ته شو او په ۱۳۸۶ کال کي د عدلیې په وزارت کي ثبت شو. نوموړي ټولنه یوه سودا ګریزه ټولنه ده چې د MISFA له خوا رامینځ ته شوه چې موخه یې د مایکرو فینانس د ادارو لپاره خبرو اترو ته لاره هوارول وو. نوموړي ټولني د هیلو سره سم یې د تنظیم او مدافعي ونډه په غاړه واخیستله ، خو لا تراوسه هڅه کوي څو خپل سازماني هویت او صلاحیت وټاکي. چې د ا د مایکرو فینانس د اداري له مرکو څخه په ډاګه شوه، چیرې چې ټولو ځواب ویونکو د ټولني د چارو او ونډې په اړه یې څرګند نظریات نه درلودل. د مناسبې ورتیا او ملاتړ سره سم دغه ټولنه کولای شي چې د سکټور د سمون د بهیر په ترڅ کې او په راتلونکې وده کې دمرستي لپاره یو خورا ارزښتناک رول ولوبوي. سره له دې په همدې وخت کې MISFA خپل ځان د داسي یوې اداري په توګه ګڼي او دا ورتیا او واک لري چې د صنعت معیارونه او د څارني ترسره کول وضع کړي.

### د اغیزې په هکله د ښه درک تر لاسه کول

د افغانستان د څیړني او ارزوني د اداري د څیړني لاس ته راوړني دا استدلال کوي چې د MISFA تر کنټرول لاندې د مایکرو فینانس اداري د مراجعینو د بریاوو د کمزوري کیدو له ګواښ سره مخامخ دي چې د مراجعینو پر پراختیا د تمرکز، د قسط د اندازې او د چارو له دوام څخه یې سر چینه اخیستي ده. د ا په دې مفهوم دی چې په داسي حال کي چې د مایکرو فینانس سکټور په لنډ مهال کي یې پراختیا موندلي، په مینځ مهال او اوږد مهال کي به دا وده معکوس لورې ته میلان وکړي ځکه چې مراجعین به د خپلو پورونو د ادا کولو لپاره به د پیسو پیدا کولو او یا به د پروګرام څخه د خرڅلاو په وخت کي دګټې دتر لاسه کولو ورتیا ونه لري. دغه په شا تګ د بیلا بیلو سکټورونو د سمون لامل شو چې وړاندې یې یادونه وشوه.

ددغي داخلي لرې او کاري ستونزو سره په غبرګون کي چې د هغو اندیښنو سره مل دي چې د افغانستان د بیا رغولود وجهي صندوق په یوه بهرنی ارزونه کي د MISFA تر تمرکز لاندې برخه کي څرګندې شوې، MISFA خپله زیاته پاملرنه یې د کړنو څارني ته واړوله، اود ټولنیزو کړنو د څارني (SPM) اصطلاح یې وکاروله. چې دا د مایکرو فینانس د نړیوالو خو ځښتونوسره یوځای پر دواړو مسایلو تمرکز لري: مالي ثبات او همدا راز د ټولنیزو شاخصونو پرمختیا څرګندوي. په معیاري دود کې ، هغه ټولنیز شاخصونه چې د مایکرو فینانس د اداري د ټاکل شویو موخو سره په اړیکه کي رامینځ ته شوي دي ښایي د بیوزلی د کچې را ښکته کول، سوکالي، او ځواکمن کول هم په کي شامل وي. که څه هم چې د افغانستان په شرایطو کي د ټولنیزو کړنو د څارني هڅې تر دې هم ډیرې محدودې پاتي شوې دي. (MISFA) دا یې څرګنده کړې چې دغه هڅې لا تر اوسه هغه کچې ته نه دي رسیدلي چې د مایکروفینانس د اداري موخې د پایلو په مقیاس بدلي شي؛ بلکي د توکو د پراختیا په موخه زیات په کارول کیږي. چې دا د MISFA د سازماني پیاوړې کولو او د ظرفیت لوړولو ته د اندازې په برخه کې د اغیزې له څارني څخه وړاندې لومړیتوب ورکول څرګندوي . که څه هم چې د ا څرګنده نه ده چې سازماني پیاوړتیا او د ظرفیت لوړول څرنګه کیدای شي چې دمراجعینو پر معیشت د کوچنیو پورونو د اغیزو له درک څخه بیل وي. داسي برېښي چې دغه لومړیتوب بیا د مایکرو فینانس ګټې یې له مراجعینو پر ګټو وړاندې کړې دي او د دواړو تر مینځ اړیکي له مینځه تللي دي. دغه خپل مینځي اړیکي د مایکرو فینانس متحدو ادارو ته د پیاوړې هڅونکي وړاندې کول توجیه کوي تر څو په دې هکله چې مراجعین څرنګه کوچني پورونه کاروي او څرنګه ددوی معیشت اغیزمن کوي د ښه پوهاوي د لاس ته راوړلو په لور په چټکه توګه وخوځیږي.

MISFA له دوو متحدینو سره کار کوي تر څو د ټولنیزو کړنو د څارني (SPM )یو محدود او آزمایښتي سیستم رامینځ ته کړي. دغه هڅه د یو لړ شاخصونو په محدودولو تمرکز کوي کوم چې په آسانی او په کره توګه راغونډیدلای شي. په دغه آزمایښت کي له ۱۶ نه تر ۱۹ شاخصونه د کابو۶ شاخصونو د بشپړولو په موخه را غونډ شوې دي چې کولای شي په بسیا توګه دا وارزوي چې MISFA او د هغه متحدینو په هغه ځای کي چې ځیني محدودیتونه رامینځ ته شوي دي د ټولنیزې اغیزې په توګه یې څه څرګند کړې دي. لکه د ریوټ کارتونوپه برخه کې ، د ټولنیزو کړنو شاخصونو پر اغیزمنتوب یې خپل پراخ تمرکز پای ته رسولی دی په داسي حال کي چې دا کیدای شي د غونډولو بهیر اسانه کړي، د غه اقدامات د کوچنیو پورونو په پروګرام کي د ښکیلیدو له کبله د مراجعینو د معیشت د بدلون د څرنګوالي په هکله د بسیا پوهاوي په لورې سکټور نه هڅوي. د مایکرو فینانس د اداري د ظرفیت او ګټو سره په تړاو کي دغه معلومات باید غوره شوي نه وي او د مایکرو فینانس د اري له ظرفیت او ګټو سره تړاو ونه لري بلکي باید د سازمانی زده کړو یوه بنسټیزه برخه وي چې د سکټور د فعالینو له خوا یې ملاتړ کیږي څو دا ډاډ تر لاسه شي چې د کوچنیو پورونو په برخه کي پانګوني د مراجعینودغوښتنو سره سم اغیزمنتیایي درلودله.

په پای کي دغه آزمایښتونو د اغیزې هغه اړخونه یې له لاسه ورکړي چې د افغانستان د څیړني او ارزوني د اداري څیړني د مراجعینو د بریا په اړه دپوهاوي ارزښت ته یې اشاره کوله. چې دا د مراجعینو د هغو پورونو په اړه معلومات دي چې د پور له ټولو سرچینو څخه یې تر لاسه کړې دي، کوم چې ښایي په کوچنیو پورونو کي له ښکیلیدو سره به زیاتوالی ومومي چې د پور دبار د زیاتیدو، او همدا راز د مراجعینو د کوچنیو پورونو د اداکولو د څرنګوالي په اړه د معلوماتو ښودونکی دی چې کیدای شي د پورد زیاتیدونکي کچې او یا په عین وخت کي د نورو منفي چارو سره اړوند وي، لکه د جایداد لیلام. په داسي حال کي چې د دغو شاخصونو غونډول به خورا ستونزمن وي، دوی به په خپلو اوسنیو فورموکي د مقیاسونو په پرتله به د معیشت پر خوندیتوب د پور د

اغيزو په هکله ډير څه وواييي. او په لومړي سر کې به د معيشت پر خونديتوب ډير تمرکز وکړي، نه پر پراخو ټولنيزو کړنو څو د مراجعينو د بريا وو لپاره ډير کره او له مفهومه ډک مقياسونه را مينځ ته کړي. چې دا د اغيزو څخه د وړاندې خوځښت، او پر هغو پايلو د تمرکز په مفهوم د ی چېرې چې کوچني پورونه مستقيمي پايلي لري او پر مراجعينو د کوچنيو پورونود توکو داغيزو د څرنګوالي په اړه معلومات وړاندې کوي. چې په دې کې د سيالي کونکو اغيزو د حل وفصل کولوځينې هڅې شاملې دي، او په هر ې يوې څيرنه کې د موخو پر اغيزو پوهيدل يوه ننګونه ده. که چېرې په دې هکله چې مراجعين څه وخت په پروګرام کې شامل شول بنسټيز معلومات موجود نه وي په لنډمهال کې به دې ته رسيدل به ستونزمن وي. د هغو معلوماتو پر بنسټ چې د مراجعينو او د هغو کسانو څخه چې مراجعين نه دي له سيمي څخه او همدا راز د MISFA او د هغه متحدينو چې پرمعيشت يې د خپل کار د اغيزو په اړه د پيژندل شوو شاخصونو څخه يې تر لاسه کړې دي ، دا به بيا د نورو لاملونو په مينځ کې د کوچنيو پورونو د بدلونونو د ښودلو او په کيفيتي ډول د کوچنيو پورونو اغيزې به د نورو لاملونو په مينځ کې په ډاګه کړي؛ د مايکرو فينانس د ادارو پوهه په راتلوکي بهير کې به يو مهم رول ولوبوي.

## ۵. مخ ته پرتې لارې

په افغانستان کې د مايکرفينانس سکتور د خپل د رامينځ ته کيدو راهيسې يې د پام وړ وده کړې ده. په نسبتاً لنډه موده کې عملياتي ثبات ته د رسيدو لپاره هڅې د کيفيت او د مراجعينو غوښتنو پر ځای مقياس او پراخيتا ته د ډير زيات تمرکز لامل شوی دی. چې دا د چټکي ودې د مديريت لپاره د د داخلي بسيا کنترول د نشتوالي او د پور د ځای نيونکو موجودوسرچينو ته د لړ ې پاملرنې له کبله په سکټور کې د ستونزو د رامينځ ته کيدو لامل شوی دی. نوموړې ستونزې اوس د MISFA او د مايکروفينانس د انفرادي ادارو له خوا د رامينځ ته شوو بدلونونو له لارې له مينځه تللې دي. په داسې حال کې چې هغه اصلاحات چې په دغه رپوټ کې پرې غور شوی مثبت ارزول شوي دي، خو لاتر اوسه دا انديښنې موجودې دي چې د مراجعينو بريا په هغه کچه چې د مايکرو فينانس د اداري بريا ارزښتناکه ده، نه ده. ددغې وروستي ټکي د په پام کې نيولو سره، لانديني وړانديزونه يو لړ نورو پلان شوو چارو اړتياپه ډاګه کوي څو د مايکرو فينانس د اداري او د مراجعينو د بريا تر مينځ اړيکو ته د کوچنيو پورونو د سکټور او د هغه د مراجعينو په ګټه وده ورکړي .

په کليوالي پانګه کې دمراجعينو د غوښتنو له ژور درک سره د يو ټوټه کليوالي پراختيا د کړنلارې په برخه کې د پلان شوې پراختيا پلې کول. د افغانستان د څيرني او ارزوني د اداري د څيرني موندنو ، او همدا راز د کوچنيو پورونو په اړه پريمانو متنونو دا يې په ډاګه کړه چې کوچني پورونه په يواځې سر د معيشت د خونديتوب او د عايداتو د ودې لپاره بسيا نه دي. په سيمه ايز اقتصاد کې جوړښتي خنډونه اکثراً د پور څخه د ګټې اخيستنې فرصتونه محدودوي. په کليوالي پانګه کې پلان شوې پراختيا بايد له دې امله په منظمه توګه او د اقتصادي پراختيا له پراخو نوښتونو له خوا د ملاتړ سره پلې شي څو بنسټيزې تشې ، او سرچينو ته د محدودې لاس رسی لکه اوبو، او د ځايي انرژی قوې په ډاګه کړي. د کليو د پراختيا لپاره پرته له يوې يوټوټه او همغږې شوې کړنلارې ، د کليوالي پورتوکي به ښايي يواځې د مراجعينو سره مرسته وکړي څو د معيشت د ثبات او ودې په وړاندې له زغم نه کار واخلي. د مايکرو فينانس اداري بايد د کليوالي پراختيا د روانو او پلان شوو نوښتونو، او همدا راز د سيالو غير دولتي ارګانونو سره که چيرې شتون ولري اړيکو ته وده ورکړي، څو په کلي، ولسوالۍ يا د ولايت په کچه يوه يو ټوټه پراختيايي ستراتيژي رامينځ ته کړي.

د مايکرو فينانس د اداري مرکې د کليوالي پور د ليږد په اړه د مايکرو فينانس د ادارو په مينځ کې ديوالي نشتوالی او همدا راز د هغه ګواښونو په اړه چې د مايکرو فينانس په ادارو او مراجعينو کې موجود دي بيلا بيل ډول تعبيرونه څرګندوي. د کليوالي پانګې زياتې ارزونې ته اړتيا ده او همدا راز په افغانستان کې يوه غوره دود رامينځ ته کيدو ته اړتيا ده څو د زياتې همغږۍ او د مراجعينو له خوا بازارته د محصولاتو د وړاندې کونې لامل شي.

د ګواښ د راتيټولو دا اړتياوو د په ښه کولو په موخه د مالي وړاندې شوو خدمتونو پراختيا. د مايکرو فينانس اداري بايد د يو لړ مالي خدمتونو چې د وی يې وړاندې کوي د بيا لومړيتوب ورکولو او پراختيا امکانات وارزوي څو د ګواښ د کمولو څخه په ښه ډول ملاتړ وکړي. امکانات لکه د خوندي سپما، روغتيايي بيمه( په ځانګړې توګه د روغتيايي شوکونه او ناورينونه)، د محصولاتو او څارويو بيمه. د افغانستان د ملي پراختيا ستراتيژي د ټولنيز ې ساتنې دسکټورستراتيژي دغه تشه يې د مارکيټ پر بنسټ تشخيص کړې ده چې د ټولنيز ګواښ د مديريت وسيله ده چې دغه د مارکيټ پر بنسټ ولاړو تياريو تنوع ته لومړيتوب ورکوي چې په ژوره توګه د پور وړاندې کولو پر بنسټ ولاړ دی څو د ټولنې پر بنسټ سپما او بيمه په کې شامله کړي. نوموړی رپوټ په دغه برخو کې د چارو څخه ژور ملاتړ کوي. په نورو اړوندو شرايطو کې د مايکرفينانس د خدمتونو د ودې له نوښتونو څخه د زده کړې لپاره وخت ته ارزښت ورکول د بصيرت نه ډک عمل څخه د ملاتړ لپاره خورا مهم دی. چې دا د موجودو بيلګو او يا د پروګرام د مستقيمي واردونې په موخه نه دی، بلکې ددې لپاره چې دا څرګند شي چې د افغانستان په شرايطو کې څه عملي او مناسب دي د يوې ارزونې په اړه خبرداری ورکوي. د سپما د توکو لپاره د غوښتنو په اړه د MISFA دعمل څيرنه په دغه برخه کې د پرمختيا څرګندونه

کوي. نوري کړنې لکه د کار، ټولنیزوچارو شهیدانو او معلولینو له وزارت سره په همغږۍ کې کولای شي د ګډ کار لپاره هغه لارې چارې را وسپړي څو داسې پروګرامونه را مينځ ته کړي چې په دغه سیمه او یانور وکې د تر لاسه شوو تجربو پر بنسټ د بیمي توکو ته پراختیا ورکړي.

د پایلو او اغیزو د ارزونې په موخه د کړنو د څارنې د وسایلو د زیات کار څخه ډاډ تر لاسه کول. د مایکرو فینانس د اداری د ریوټ کارټونو او د ټولنیزو کړنو د څارنې پیل د څارنې او ارزونې په برخه کې یوه ارزښتناکه پانګونه ده. سره له دې،څرنګه چې وړاندې یې یادونه وشوه، ګڼ شمیر درپوټ کارټونو شاخصونه پر محصولاتو او کمیت تمرکز کوي چې ښايي ریوټ ورکونه یې آسانه وي مګر ددې کار ارزښت به محدود کړي . دغه وړاندیز شوی چې د MISFA او د هغه د مایکروفینانس د اداری متحدین باید دې کار ته ادامه ورکړي څو دا په ډاګه کړي چې ځینې شاخصونه د هغه څه سره په مقایسه کې چې دوی یې تر لاسه کوي څه مشخصوي څو ډاډ تر لاسه شي چې ددغې چارې د ودې لپاره بسیا شته لاس ته راغلي دي. د مایکروفینانس د اداري په متحدینوکې د ظرفیت محدودیتونه په دې مفهوم دي چې د شاخصونو د ودې لپاره یوې چټکې کړنلارې ته اړتیا ده، خوباید د تمو کچه ډیره ټيټه نه وي.

د ټولنیزو کړنو(یا اغیزې) څارل په تدریجي توګه پیلیږي او دڅارنې اړتیا په هغه ډول چې ګرانه نه وي په ډاګه کړي کوم چې سیمه ایزو معلوماتو د غونډولو ظرفیت په ډاګه کوي. سره له دې، پر امکاناتو ډیر زیات تمرکز به بیا هم د دغه کار اهمیت لږ کړي. لکه د ریوټ کارټونو په برخه کې دغه ویره وه چې یوازې د محصول په هکله معلومات را غونډ شوي دي ( د پورونو شمیر، د پورونو سرچینې، په ښوونځي کې داخلول، د شتمنۍ درلودل) خو د هغه بدلونو په اړه چې کوچنیو پورونو ته د مراجعینو د لاس رسی او د هغه د کارولو په واسطه رامینځ ته شوي دي ددرک په هکله یې لږ وړتیا موجوده وه. د ارزښت او امکان تر مینځ باید یو انډو ل تر لاسه شي، چې دا کیدای شي د ظرفیت د ودې په توګه وشمیرل شي.

په SMP کې بله د پام وړ مسأله د نامناسبو پایلو امکان دی که چیرې د مایکرو فینانس د اداري د کارکونکو په واسطه پلې شوې وي. مراجعین نه غواړي مرستي له لاسه ورکړي، آن که دوی هغه نیمګړې هم وګڼي او دوی په دې هکله پوهه لري چې څه ډول ارزونې سره غبرګون وښیي څو موجود پروګرام وساتي. نو ځکه، باید د کړنو د څارنې په پلان کې خپلواکه ارزونې رامینځ ته شي تر څو د مایکروفینانسن پر ادارو د هغه اغیزې احتمال راکم کړي چې دوی څه غواړي چې ویې مني. بله لاره چې باید ورته ځواب وویل شي هغه د مراجعینو په خورا عادي او غیر رسمي نظریاتو کې ښکیلیدل دي چې د مایکروفینانس اداري غواړي چې دغه لاس ته راغلي معلومات د پروګرامونو د تنظیمولو لپاره وکاروي، په داسې حال کې چې مراجعینو ته اجازه ورکړل شوې وه چې په دې بهیر کې د معلوماتو د برابرولو ارزښت وګوري څو پرته له دې چې دوی ته زیان ورسیږي پروګرامونو ته وده ورکړي.

د سوداګرۍ او مالي خدمتونو په روزنیزو پروګرامونوکې د سترې پانګونې څخه ملاتړ. د کارکونکو کمزوری ظرفیت د مایکروفینانس د اداری عملیاتو او څارنې په وړاندې د پام وړ خنډونه را مینځ ته کوي. په دې توګه MISFA او نور کولای شي چې ددولتي او شخصي تعلیمي موسسو څخه ملاتړ وکړي څو زیات شمیر کورسونه ،تصدیق لیکونه او داسې پروګرامونه چې د مالي زده کړې پر لوړولو ، مالي مدیریت، څارنه او د سوداګرۍ په اړه دعمومي وړتیاوو پر وړاندې کولو متمرکز وي .

د پورو له غیر رسمي سیستمونو څخه زده کول. له نورو شرایطو او همدا راز د افغانستان د څیړنې او ارزونې د اداري د ساحوي څیړنې تجربي مایکرو فینانس ادارو ته هغه اړتیا په ډاګه کوي څو دمراجعینو له اړتیاوو سره په تفاهم کې پانګونه وکړي، لکه د پور په نورو سیستمونو کې ددوی ښکیلتیا څو د غوښتنو پر بنسټ پروګرامونه طرح کړي. چې دا کار په بشپړه توګه په افغانستان کې د مراجعینو او د مایکروفینانس د ادارو په تاوان نه دی تر سره شوی. په داسې حال کې چې د مایکرو فینانس د اداري په کړنلارو کې ددغو شننو زیاتول ښايي زیات وخت ته اړتیا ولري او همدا راز د لګښت کچه به لوړه کړي، چې دا د عایداتو لپاره یوه ارزښتناکه پانګونه ده. په افغانستان کې د غیر رسمي پور د سیستم په اړه د پوهې وده لکه د اسلامي پانګې د توکود غوښتنو په هکله پوهه، د مایکرو فینانس داسې اداري به رامینځ ته کړي چې د مراجعینو د غوښتنو پر اساس وي او دا توان ولري چې وړ توکي چې وکړای شي په غوښتنو کې هغه په ډاګه شوې تشې ډکې کړي، چې دا کار به ددې لامل شي څو د مالي خدمتونو یو نوښتګر او پیاوړی سکټور رامینځ ته کړي. لکه څرنګه چې د مایکرو فینانس اداري په کلیوالو سیمو کې ډیرې پراخې دي، دغه پوهه له دې کبله د ارزښت وړ ده چې توکې د مراجعینو له معیشتي فعالیتونو او نغدو پیسو او د کوچنیو پورونو له هغه پروګرامونو سره برابر دي چې هغو سیموته ځي چې هلته د پانګونې فعالیتونه کولای شي بسیا عایدات رامینځ ته کړي څو وکړای شي د قسطونو سره مرسته وکړي. د غیر رسمي پور د سیستم په هکله پوهه د مایکرو فینانس د اداري او د مراجعینو د بریا په ګټه ده.

# د افغانستان د څېړنې او ارزونې د ادارې وروستی خپرونې

۲۰۰۹د ۲۰۱۰ کال مې  ټول ګلان څه شول؟ په افغانستان کې د ترياکو د اوسني توليد د کمښت ددوام ا ر زونه، د ديويد منسفيلد ليکنه

| | |
|---|---|
| د ۲۰۱۰ کال مې | د شواهدو پر بنسټ: حکومتداري، عدالت او پراختيا( د کابل د کنفرانس لپاره برابرې شوې پاليسي پاڼې) ^ |
| د ۲۰۱۰ کال اپريل | د کوکنارو د کرکيلې کمول: اغيزې او لاملونه، د جې لمي ليکنه^ |
| د ۲۰۱۰ کال اپريل | په افغانستان کې د پاريس د اعلاميې او د مرستو د اغيزمنتوب په هکله غبرګونونه (پاليسي پاڼه)، د ربکا رابرتس ليکنه^ |
| د ۲۰۱۰ کال اپريل | په افغانستان کې د انتقالي عدالت وضعيت (پاليسي پاڼه)، د ايميلي وينتر بوتم ليکنه^ |
| د ۲۰۱۰ کال اپريل | د انډولې ودې او د بيوزلۍ د راټيټولو لپاره د هڅو سمون، د پاولا کانتور ليکنه^ |
| د ۲۰۱۰ کال اپريل | د افغانستان د معيشت تګ کربښې: د کندهار څخه شواهد، د آدم پين ليکنه |
| د ۲۰۱۰ کال اپريل | * په افغانستان کې د انتقالي عدالت وضيعت: فعالين، تګلارې او ننګونې، د ايميلي وينتر بوتم ليکنه ليکنه^ |
| د ۲۰۱۰ کال مارچ | د افغانستان د معيشت تګ کربښې : د بدخشان څخه شواهد، د آدم پين ليکنه |
| د ۲۰۱۰ کال مارچ | د ۲۰۱۰ کال د افغانستان مرستندوی لارښود( اتمه ګڼه) ليکنه^ * |
| د ۲۰۱۰ کال فبروري | *د ملاتړ او بغاوت تر مينځ: په افغانستان کې د زده کوونکو سياسي فعاليتونه، د انتونيو جيوستوزي ليکنه^ |
| د ۲۰۱۰ کال فبروري | *د افغانستان د څيړنې خبر پاڼه، ۲۴ مه ګڼه^ |
| د ۲۰۱۰ کال جنوري | په افغانستان کې ديو بريالي مايکروفينانس د سکتور جوړونه، د پاولا کانتور او ايرينا اندرسن ليکنه^ |
| د ۲۰۰۹ کال دسمبر | د افغانستان لپاره يو هر اړخيز قضايي سيستم ، د ديبرا.ج . سميت او جې لمي ليکنه |
| د ۲۰۰۹ کال دسمبر | د باميان په ولايت کې د ځايي ټولنو د شخړو د حل بهير، د ديبرا.ج .سميت او شيلي منالن ليکنه |

د افغانستان د څيړنې او ارزونې اداره په کابل کې ميشته يوه خپلواکه څېړنيزه اداره ده. ددې ادارې دنده د لوړ څرنګوالي درلودونکو او پاليسی پورې اړوندو څېړنو له لارې پرپاليسی او چارومثبتې اغيزې او دمعلوماتو پراخول دي.

همدا راز نوموړې اداره په افغانستان کې د څيړنې او زده کړې د کلتور د ودې په موخه د څيړنې پايلې په چټکه توګه خپروي. دې موخې ته د رسيدو لپاره نوموړې اداره د پاليسي جوړونکو، مدني ټولنې، څيړونکو او زده کونکو سره ددوی د څېړنيزې وړتيا د پياوړې کولو او ددوی په مينځ کې د دې ادارې د څېړنو او کتابتون څخه د ګټه اخيستنې دترويج په موخه ښکيل ده څو په دې توګه وکړای شي شننو، غبرګونونو او خبرو اترو ته لاره هواره کړي.

نوموړې ادارې په ۱۳۸۱لمريز کال په افغانستان کې د بوختو مرستندويه ټولنو په مرسته يې په کار پيل وکړ اود يو مديره پلاوې درلودونکې ده چې د بسپنه ورکونکو ټولنو له خوا لکه ملګرې ملتونه او نورو څو اړخيزو ادارو، او نا دولتي ادارو له خوا يې استازيتوب کيږي. نوموړې اداره اوس مهال خپله اصلی بودجه د ډنمارک ، فنلند، ناروی، سويډن، سويزرلند او د انګلستان دحکومتونو څخه تر لاسه کوي. د افغانستان د پرانيستې ټولنې د انستيتيوت (FOSIA)، ايشيا فونديشن (TAF)، اروپايې کميسيون (EC)، او د نړيوالې پراختيا لپاره د څيړنيز مرکز (IDRC) له خوا ددې ادارې له ځانګړو پروژو سره مالی مرستې کيږي.

ژباړونکې: ماری شيرزاد طراح او ډيزاين وکيل وسيم